هفته نامه

دجهاد هنداره

مـراة الجـهـاد

لومړی کال ، (٢٦) گنه چهارشنبه د١٣٦٩ هـ ش کال دحوت (٢٢)

PROPERTY OF ACKU

په عراق کې دبغاوت لړۍ پراخه شوې

بغداد :
دنړیوالو خبرځایونو په حواله ویل شوی دعراق دمشر صدام حسین پرخلاف دهغه هیواد داوسیدونکو دبغاوت لړۍ نوره هم پراخه شوی . پدغه اړودوړکې دعوامو خلکوسربیره دعراق دپوځ مسلح عساکر اوافسران هم شامل دي ، پداسې حال کې چې صدام حسین ته وفادار جـمـهـوري گـارډ ددې شورشیانو په ټکولو مصروف

په اووم مخ

په کابل ښارکې دخلقیانو کورونه تلاشي کېږي

په اتم مخ

درژیم دخادستانو اوملیشو له خوا دجومات دبی حرمتي په وجه دخلکو احتجاج

کابل - میډیا
په پیښورکی دکابل ولایت دمجاهدینو خبرځای میډیا ته رپوټ ورکړچی : دکابل ښاردقلعه نیازبیگ په سیمه کی دکمونست رژیم دخاد اوجوزجانی ملیشه ؤ یوشمیر امنیتی گروپونه د حوت په ٥مه شپه دخپلی عیاشی اوساعت تیری پخاطر دنوموړی سیمی په جامع جومات کی دځو فاحشو په گډون دسازسرود اوفحاشۍ غونډه جوړه کړی وه اودنوموړی جومات بی حرمتی یی کړی ده .
خبرځای دنیازبیگ دښاری سیمی دسپین ږیرو په حواله زیاتوی چی دکابل ښاریانو دکابل رژیم دخاد اوملیشو ددغه ناروا عمل غندنه کړی اودرژیم دواکدارانو څخه یی دملیشه ؤ دامنیتی پوستو دټولولو غوښتنه کړی.
همدارنگه خبرځای وویل چی دکابل مجاهدینو دکمونستی رژیم څخه دجومات دبدل اخستلو لپاره په سبا ورځ یوه په یوه گرندی موټرکښنی ځای پرځای کړلو چی دهغی دچاودنی له امله دکابل دحاجی یعقوب په څلورلاری کی درژیم څلورنظامی پرسونل وژل شوی دی .
دغه رازخبرځای په یوبل خبرکی زیاتوی چی مجاهدینو دکابل رژیم دمیدان ښارامنیتی پوستو باندی دحوت په ٤مه نیټه سخت بریدونه وکړل ، چی په نتیجه کی ١٣ تنه ملیشه د ١٣ کلاشینکوفونوُیومیل راکټ اویو سیټ مخابری سره مجاهدینو ته تسلیم شوی دی .

په خوست کې دسرحدي لوا ډیپو تباه شوه

دخوست څخه دقوماندانانو شوراته رپوټ ورکړشوی چی ددی سیمی مجاهدینو ددرنو وسلو دډزو له امله دحوت په ١٤ نیټه دخوست د٢ لمبر سرحدی لـوا دمهماتو یوه ډیپو اورواخیست اوله منځه ولاړه .
دیوه بل خبرله مخی په همدی ورځ دنوموړی سرحدی لواڅخه دکابل رژیم ٥ تنه عسکر له خپلو وسلو سره دژوری په سیمه کی مجاهدینو ته تسلیم شول .

حضرت صبغت الله مجددی دبي ، بي، سي له خبريال سره په مرکه کې :

دعبوري حکومت له خوا اعلان شوي انتخابات له ناکامۍ سره مخامخ دي

په دوهم مخ

قیام معیوبین ومعلولین علیه رژیم کابل

هشت نفر ازافرادڅارندوی رژیم هلاك وهفت نفردیگر بشمول امرحوزه نهم امنیتی څارندوی هنگامی مجروح شدند که قوای څارندوی وخاد رژیم تلاش نمودند تا معلولین ومعیوبین قوای رژیم راکه بزوورسه بلاك رهایشی رادربخش مکروریان چارم به تصرف خود دراورده بودند، خارج سازند.
اژانس خبری حکومت مؤقت افغانستان «میدیا» ضمن نشر خبرفوق ازقول خبرنگار خویش که ازکابل برگشته مینویسد افراد وصاحب منصبان رژیم که درجنگ علیه مجاهدین ازدست ویا معیوب ومعلول شده اند ودرغند دفاع شهری متشکل گردیده اند بخاطر اشغال اپارتمان های مکروریان چارم مارش نموده سه بلاك رااشغال نمودند، درخبر امده است هنگامیکه قوای پولیس وخادرژیم

صفحه هشتم

مجاهدینو دبلخ په ولایت کی درژیم پرقطارحمله وکړه

دبلخ له ولایت څخه قوماندان مولوی جمعه دقوماندانانو شورا ته خبرورکړی چی مجاهدینو دمزدور رژیم یوه قطارته چی دجوزجان په لورروان ؤ دچاربولك په ولسوالی کی کمین نیولی ؤ چی په نتیجه کی ٨ عرادی ټانکونه اوڅلورعرادی موټرله منځه وړل شویدی برسیره پردی ٧ تنه صاحب منصبان هم وژل شویدی .
پدی جگړه کی دمجاهدینو له خوا شپږ تنه په شهادت رسیدلی اولس تنه ټپیان شویدی دیوه بل خبرله مخی چی دقوماندانانو شورا ته رسیدلی داسی ویل شوی چی زړورو مجاهدینو دپیکان دری په سیمه کی ددښمن امنیتی پوستی تربرید لاندی ونیولی او لدی امله ٢٥ تنه دولتی ملیشیان له خپلووسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شول پدی بریدونو کی دوه تنه مجاهدین شهیدان اودوه تنه زخمی شویدی .

دقندهار اوفراه په ولایاتو کی دمجاهدینو عملیات

قندهار- میډیا :
دقندهارولایت څخه په کویټه کی دمیډیا نمایندگی ته په رارسیدلی پیـغـام کـی ویـل شـوی چی مجاهدینو دحوت په ٤مه نیټه دقندهارښارسره نژدې دشکارپور په دروازه کی دیو ځای په ځای شوی مین پواسطه درژیم ٤ تنه پلویان وژلی دی .
خبرځای په یو بل رپوټ کی وایی چی مجاهدینو دحوت په ٥مه نیټه دقندهارښاردعیدگاه په دروازه کی دیو بل ځای په ځای شوی مین پواسطه درژیم ٢ تنه پلویان وژلی دی .
دفراه دولایت څخه په کویټه کی دمیډیا نمایندگی ته په رالیږلی شوی پیغام کی ویلی شوی چی مجاهدینو دحوت په ٤مه نیټه دفراه دښار مرکز سره نژدی درژیم پرپوستو باندی په یو تعرضی برید کی درژیم ٤ تنه عسکر اویو منصبدار وژلی او ٣ تنه نور یی ټـپـیـان کـړی دی

صدرالدین اغاخان استعفی وکړه

لندن - دحوت ١٨مه :
دانسانـی همدردی په بنیـاد دمرستوراټولولو لپاره دملگرو ملتو دعمومی منشی خصوصی استـازی شـهزاده صدرالدین اغاخان له خپلی دغی دندی څخه هم استعفی ورکړه .
په جینوا کی دملگروملتو سازمان یو منبع ددی خبرپه خپرولو سره ویلی چی نوموړی ، دیوه تحریری لیك په واسطه دملگرو ملتونودسازمان له عمومی منشی څخه غوښتی چی دی له دې دندی څخه بایډ لری کړای شی
صـدرالـدیـن اغـاخـان دملگروملتوسازمان دمهاجرینو دعالی کمشنر په حیث هم دنده ترسره کړی ده.

دعصمت مسلم دجنازی لمانځه څخه دمسلمانانو ډډه کول

دمیډیا خبریال دکابل څخه رپوټ ورکړیدی چی دکابل مسلمانو خلکو دعصمت مسلم په جنازه کی چی درسمی مراسمو په توگه دپل خشتی جامع مسجد ته راوړل شوی وه دگډون اودجنازې دلمانځه داداکولو څخه ډډه وکړه .
په خبر کی راغلی دی خلکو دهغه جسد ته چی دچکوسلواکیا څخه کابل ته راوړل شوی ؤ په بده سترگه کتل اوویل یی داسی یوه سړی په جنازه کی گډون کول چی لاسونه یی ناولی شوی دی اومسلمانانوسره یی خیانت کړی وی، ستره گناه گڼله کیږی
خبرزیاتوی وروسته بیا دده جسد کندهارته ولیږدول شو چی هلته هم په خرقه مبارکه کی دهغه دخښولو سره مخالفت وشو اوپدی توگه دتدفین مراسم پوشپه اوورځ وځنډول شو، خوامنیتی مقاماتو په جبرا وزوورسره داکارترسره کړ.

روس ته دامریکې مرستې له سره پیل شوې

په مغو خبرونو کی چی له مسکو څخه خپاره شویدی وایی چی امریکی یوځل بیا خپلی مرستی دروس هیواد ته پیل کړیدی .
په خبر کی څرگنده شویده چی دامریکی په ٣٢٨ میلیون ډالری مرستوکی به خوراکی مواد ، دارو ، درمل اونور شیان شامل وی

دمزدوررژیم پرپوځي مرکزونو راکټي حملې

دکابل څخه دقوماندانانو شورا ته په رارسیدلو رپوټونو کی ویل شوی چی قهرمانو مجاهدینو دحوت په ١٦ نیټه دقلعه حکیم پرپوستی حمله وکړه اوله دی امله یی ١٤ تنه عسکراومنصبداران وژلی اودمهماتو یوه ډیپو یی سوځولی ده پدی جگړه کی پنځه تنه مجاهدین شهیدان اویو تن زخمی شویدی .

په هند کې ٣کسان مړه او٢٤ تنه زخمیان شول

نوی ډیلی - دکب ١٨ مه :
دهند په بهار ایالت کی دتیری پنجشنبی په ورځ دمسلمان وژنی په یو لړ پیښو کی ٣ کسه بی گناه مسلمانان وژل شوی او٢٤ کسه نورټپیان شوی .
دتهران راډیو دخبر مطابق دغه پیښه دنوموړی ایالت په جمشید پورښارکی دیوه جومات سره نژدی شوی ، چی دهغی په لړکی یو زیات شمیر دوکانونه او موټروته اوروورته کړای شوی .

اخطار ایران به ارتباط وضع خلیج

ایران به کشورهای خارجی اخطارداده است تادرامور داخلی عراق مداخله ننمایند .
طبق یك خبراین مطلب دراعلامیهٔ امده است که ازطریق رادیو ایران انتشاریافت .
دراعلامیهٔ ایران گفته شده است : وقت ان فرارسیده است که کشورهای متحد ضد عراق منطقه راترك گویند زیرا موجودیت انها موجب نارامی وبدامنی درمنطقه شده است ،معاون وزیر خارجه ایران نیز گفته است که ایران هیچگاه درعراق ناارامی ایجاد نمی نماید.
طبق یك خبردیگر وزیر خارجه ایران به معاون صدراعظم عراق که بخاطر بحث برناارامی ها دربصره که ازسوی شیعیان عراق براه انداخته شده به تهران رفته بود گفته است که عدم توجه به نظرات ایران دررابطه به اشغال کویت ازسوی عراق منطقه رابه وضع ناهنجاردچارساخته است .

سرمقاله

انتظار دچاپه گته اودځه له پاره ؟

دمجاهدینوعبوري حکومت له خپل دوره کلن غیر مؤثر اوډیپیښورتردفترونو پوري محدود موجودیت وروسته خپله دحکومت دچلوونکو له خوا دیوې بشپړې ناکامي اوسقوط په پوله ودرول شو، دحکومت له خوا چې دانتخاباتو کمیسیون کومه طرحه وړاندې اواعلان کړه هغه دهیواد په هیڅ یوه برخه کې پلي اوعملي نه کړې شوه اونږدې یو نیمه میاشت مخکې دموقت حکومت زیاتره دفترونه وتړل شول اود ٢٠ زرو په شاوخوا کې مامورین دبیکارۍ اوتعویق په سمندرورلاهوشول .

٨مخ

یوازې په پخواني جهاد باندې به موږ الله تعالی (ج) ونه بښي ، بلکې دژوند ترپایه پورې په اسلام ، ایمان اوجهاد کې پاتې کیدل ضروري دي

(الحاج حقاني)

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني

دتأسيس كال : ۱۳٦۹ هـ ش

دعبوري حكومت له خوااعلان ...

بناغلی مجددی دخپل سفر په هکله وویل چي زماسفر په المان کي دافغانی مهاجرو له تعليم يافته ؤ اوسياستمدارانو سره خبری اوتبادل افکار ؤ اوهم دليبيا دحکومت په غوښتنی سره ليبيا ته ولاړم اوهلته مي دمعمرالقذافی اودجمعيت دعوت مشر ډاکتر شريفی سره وکتل اوهم مي وغوښتل چي دمجاهدينوسره بي له قيد اوشرطه مرستی وکړی .

دافغانستان داسلامی دولت رئيس دليبيا دحکومت څخه غوښتنی دي چي روسانو ته قناعت ورکړی څودنجيب نه تيرشی اوقدرت دمجاهدينو حکومت ته يا بل حکومت ته چي دخلکو په خوښه وی ورکړل شی .

حضرت صبغت الله مجددی دافغانستان په دننه کي دانتخاباتو په باره کي وويل : موږ پدي هکله له ډيرو مشکلاتو سره مخامخ يو اوډيرشکايتونه دقوماندانانو، علماو، مشرانو اوخلکو له خوا شويدي ، په نظر کي ؤ چي نماينده گان بايد دحوت تر پنځلسمی پوری په پاکستان کي سره راټول شی اوبيا دافغانستان په دننه کي يو ځای وټاکل شی خوداسی ونه شوه ، که څه هم موږانتخابات ندي متوقف کړی خواوس له ناکامی سره مواجه دي،مايخوا هم داخبره کړی وه چي دجنگ په وخت کي دانتخاباتو سرته رسيدل ډيری ستونزی لری ښه به داوه چي لويه جرگه راغوښتل شوی وای اودانتخاباتو له هری حوزی نه مشهوراوښه قوماندانان دي لويی جرگی يا شوراته راشی اويو شمير دمهاجرينو نماينده گانو ته بلنه ورکړل شوی وای اودافغانستان په مهمو پيښو يي فيصلی کړی وای ددي کار امکانات اوعملی جنبه زياته ده خودانتخاباتو امکانات ډير ضعيف دي .

« شفيقی »

دبنگله ديش په وروستيو انتخاباتو يو ځغلند نظر

هلته چي په خليج کي دزرگونو کلونو اسلامی تمدن او اثار ديوي خونړی جگړی په اور کي سوځيدل ، دعراق او کويټ مسلمان ولسونه دصدام او بوش دځان غوښتنی او قساوت تر ميچنو لاندي دل کيدل پر اسلامی امت له عقله پلی صدام او داسلام دهميشنيو دښمنانو صليبيانو گډ تاړاکونه تحميل شوی وو ، دخليج جگړه خپل اوج ته رسيدلی وه او ددغه ستری غملړلی جگړی دژر پای ته رسيدو لپاره په مليونونو مسلمانانو دخدای «ج» په دربار کي ځولی غوړولی وي ، او هلته چي دعراق او کويټ دمسلمانو ولسونو په بی رحمانه قتل عام دنړی مسلمانانو دماتم اوښکی څڅولی، په يوه بل مسلمان هيواد «بنگله ديش » کي يوه تاريخی پريکړه کيدله او دفبروری په «۲۷ »مه ددغه هيواد ولس خپله پريکړه دتاريخ پاڼو ته وسپارله ، هسی پريکړه چي په سيمه او نړۍ کي ښی اغيزی درلودلی شی خو دبنگله ديش دمسلمان ولس دغی پريکړی او تاريخی مظاهری ته دچا پام ځکه نشو چي دنړيوالو او خصوصاً داسلامی نړۍ پام او توجه ټوله دخليج د دردونکی تراژيدی په لوری وه .

دتيري عيسوی مياشتی په «۲۷ »مه په بنگله ديش کي دملی شورا او ددغه هيواددراتلونکی نظام او حکومت لپاره عام انتخابات وشول چي دبنگله ديش له جوړيدونه تر ننه پوری دغه انتخابات دځنو خاصو ارځښتونو له مخی ډير داهميت او پام وړدي ، پخوا له دي چي ددغه تاريخی انتخاباتو پر نتيجو او اغيزو څه ووايو په لنډو ټکوکي دبنگله ديش د جوړيدو پر تاريخی پس منظر لږ څه رڼا اچوو .

له نن نه شل کاله وړاندي په متحد پاکستان «هغه وخت بنگله ديش د ختيځ پاکستان په نوم يادېده » کي دجنرال يحيی خان درياست په وخت کي عام انتخابات وشول چي په ختيځ پاکستان کي دبنگاليانو لوی گوند «عوامی ليگ» دشيخ مجيب الرحمن په مشری زياتی چوکی وگټلی خو په لويديځ پاکستان کي عوامی ليگ بيا يوه چوکی هم تر لاسه نکړای شوه دغه راز په لويديځ پاکستان کي دذولفقارعلی بوټو په مشری دخلکو گوند «پيپلز گوند » غوڅ اکثريت گټلی ؤ ، نتيجه داشوه چي په ختيځ پاکستان کي يوه لويه پارټی او په لويديځ پاکستان کي بله لويه پارټی دسياست ډگر ته فاتحه راووتله يو څه ددغو گوندونو دليډرانوځان غوښتنه او داقتدار هوس او څه هم دپاکستان او اسلام پخوانی په کمين کي ناست دښمن «هند» دښمنانه لاسوهنی ددي سبب شوی چي بالاخره يو پاکستان په دوو جلاجلا هيوادونو «پاکستان او بنگله ديش » باندي توټی شی ، په پاکستان کي دبوټو حکومت او په بنگله ديش کي دشيخ مجيب حکومت جوړ شو ، شيخ مجيب-الرحمن دهند وانو نږدی دوست او دسيکو لريستی افکارو خاوندؤ چي ډير زر دبنگال مسلمان ولس په

په اوؤم مخ

كشورهاي عربي ومساله امنيت منطقه

سميع الله (تاره)

بعدازشکست سخت عراق درجنگ خليج سوال عمده مطرح درمنطقه وجهان اينست که چگونه ميتوان به منطقه خليج صلح پايدار رااعاده وبه ان استحکام بخشيد .

همانطوريکه درخليج منافع کشورمختلف بشمول کشورهاي بزرگ غرب ومنطقه باهم گره ميخورد دربازگردانيدن صلح به منطقه نيز هريك ازانها تيل وعلاقه بخصوص دارند .

امريکا بحيث سردسته متحدين عليه عراق علاقه دارد باشکستن کامل ماشين نظامي عراق که مستقيما بسوداسرائيل متحد عام وتام امريکا درمنطقه است صلح وثبات به طرزي اعاده گردد که تادراينده زمان نه چندان دورقدرت نظامي ديگري که امنيت اسرائيل ومنافع حاليه ودوررس امريکا را مورد تهديد قراردهد سربلند نتواند بناء امريکا ، انگليس وفرانسه جهت تنظيم پروسه صلح درخليج پلانهايي مشخص دارند اما درين ميان انچه بيشتر زمزمه ميشود وکشورهاي متحد عليه عراق نيز بان خوشبين معلوم ميشوند تشکيل قواي حفظ صلح خليج است که بشمول شش کشورشوراي همکاري خليج سوريه ومصر بعدازسه روزبحث دردمشق اعلام گرديد.

شوراي همکاري خليج درسال ۱۹۸۱ ايجاد گرديدکه بيشتر باتقليد ازبازارمشترك اروپا همکاري اقتصادي وتجارتي رامطمع نظرداشت امابااشغال کويت توسط عراق کشورهاي عضو شوراي همکاري برلزوم همکاري نظامي نيز بيشتر توجه نمودند لذا هشت کشورمذکور متحدا قواي دفاعي جديد را ايجاد خواهند نمود که بعد ازخروج قواي خارجي صلح وثبات منطقه راحفظ نمايد .

امريکا ، فرانسه وانگليس که منافع ستراتيژيك درمنطقه دارند پذيرفته اند که قواي زميني خويش رازمنطقه خارج مي نمايند ودرصورت تقاضاي قواي حفظ صلح خليج حاضرند قواي هوايي خود رابخدمت اين قوا بگمارند .

مصر باداشتن يك اردوي قوي ميتواند بخش اعظم اين قوارا ازنگاه افراد تامين نمايد وسوريه نيز حاضر است به پيمانه کافي باين قواعسکربدهد اين دوکشوردرجنگ خليج نيز بااعزام جمعا درحدود پنجاه هزارعسکر به عربستان مسوولیت پرمخاطره راعليه عراق به عهده گرفتند .

گفته شده است که پيمان دمشق بخش اقتصادي رانيزاحتوا خواهد نمود که ميشود کشورهاي عضو دربخش اقتصادي نيزبا هم همکاري نمايند ونيز گفته شده است که مصارف قواي نظامي اين پيمان ازطريق همکاري اقتصادي ان تکافو خواهد گرديد .

باين طرح تااکنون هيچ کشورمخالفت ننموده است بلکه کشورهاي بزرگ نيز ميخواهند خودشان ازمنطقه بدوربود اما منافع شان ازگزند مصون باشد قبل ازدرگيري جنگ خليج مقامات مسوول امريکايي باربار گفته بودند که قواي خود راتاديرزمان درمنطقه خليج حفظ خواهند نمود اما وضع بعد ازجنگ نشان داد که ازيکطرف کشورهاي منطقه وجهان باتمرکز قواي امريکا وديگر کشورهاي غرب درمنطقه مخالف اند وازطرف ديگر کشورهاي عربي نشان دادند که توانايي انرادارند تاصلح وامنيت منطقه راخودشان حفظ نمايند

بافروريختن عظمت نظامي عراق ازيکطرف وتضمينات قوي امريکا ازطرف ديگر اسرائيل مطمين است ديگرکدام کشورقوي عرب که بتواند بااسرائيل شاخ درشاخ گردد نيست وانکشوربحيث يگانه کشوردارای سلاح وامکانات اتومي باقي مانده است که ميتواند درمذاکرات احتمالي عرب واسرائيل امتيازات بيشتر بدست اورد .

مصروسوريه باهمکاري وهمقطاري باامريکا درمقابله باعراق توانستند اعتماد امريکا رابيشتر بسوي خويش جلب نمايند اين امرميتواند فشار سياسي ازسوي امريکا براسرائيل رابيشتر سازد چنانچه درسپاسگزاري ازين موضوع بود که دولت امريکا توام با اتش بس جنگ خليج خواستار حل مساله فلسطين گرديد . دولت امريکا باين ترتيب خواسته است قبل ازانکه کشورهاي عربي خواستار حل مساله فلسطين گردند بحيث امتنانيه ازهمنوايي شان انرا مقدم ازانهابرازداشت.

حضورکشورهاي عربي منطقه درقواي حفظ صلح خليج ميتواند امريکا وساير کشورهاي که منافع نفتي وغيره درمنطقه دارند مطمين سازد سفروزير خارجه امريکا که به کشورهاي مصر ، اسرائيل ، عربستان اغازيافته است نيز درين جهت است تادريابد که تاچه اندازه کشورهاي منطقه ويا بالاخره کشورهاي عضو پيمان دمشق ميتوانند مسووليت اعاده صلح وامنيت اينده رابه عهده گيرند اين درحالي است که هنوز ازسوخته هاي جنگ دودمتصاعد است وازويرانه هاي منازل گرد مي خيزد هزاران مرده زير توده هاي خاك وهزاران هزار ديگر لادرك ويا دورترازاغوش فاميل ووطن خويش منتظر سرنوشت خويش اند وهمچنان مردم عراق نيز ميخواهند خود را ازشر صدام حسين نجات دهد که باهشت سال جنگ بيهوده باايران ويا اشغال کويت کشورباستاني واسلامي عراق رامورد ملعبه اميال شوم وخودخواهانه خود قرارداده موجب تباهي مادي ومعنوي کشورگرديد .

سرنوشت عراق هنوز ناروشن واينده ان تاريك حدس زده ميشود گذشت زمان وفراست مردمان عراق وبالاخره مردم منطقه خليج نشان خواهد داد که تاحد انها درزمان بعد ازيك جنگ تباه کننده که کشورهاي غربي دران تمام امکانات تخنيکي وپيشرفت هاي تخنيك درساحه نظامي رابه ازمايش گذاشتند چگونه ميتوانند دوباره بپاي خويش بايستند وسرنوشت خود وصلح وامنيت خود راخودشان سروسامان مي دهند

> **بافروريختن عظمت نظامي عراق ازيکطرف وتضمينات قوي امريکا ازطرف ديگر اسرائيل مطمين است ديگرکدام کشورقوي عرب که بتواند بااسرائيل شاخ درشاخ گردنيست وانکشوربحيث يگانه کشوردارای سلاح وامکانات اتومي باقي مانده است که ميتواند درمذاکرات احتمالي عرب واسرائيل امتيازات بيشتر بدست اورد .**

په تیرپسې :　　　　　　　　　　　　　　　　دوهمه برخه

په افغانستان کې دکې ، جې ، بې ورانوونکي فعالیتونه

داکسا – کام – خاد – واد، تشکیلات ، فعالیتونه او جنایات

دمحمد ظاهردتولواکۍ په دوره کې دکې ، جې ، بې فعالیت (۱۳۱۲ - ۱۳۵۲هـ ش)

عبدالوکیل

> پدغه مقاله کې به ولولی چې :
> * روسانو خپلې جاسوسی شبکې څنګه فعالی کړې .
> * په افغانستان کې دکې ، جې ، بې فعالیتونه څه بڼه لری .
> * دظاهرشاه دواکمنی په وخت کې کې ، جې ، بې څه ډول فعالیت کاوه .
> * په روسیه کې دافغانی محصلینو په رابطه کې ، جې ، بې څه ورفعالیتونه کوی .
> * په پوځ کې کمونست ګوند ته دجذب اوجلب طریقه څه وروه .
> * په قبایلی سیمو- پاکستان اوایران کې دخاد تخریبی فعالیتونه څه ډول ؤ او ...

دمحمد ظاهردتولواکی په دوره کې دافغانستان سیاسی ، اقتصادی اوفرهنګی اړیکی له روسانو سره نورې هم زیاتې شوې خودهغوی سره دنظامی روابطو ټینګښت چې دتولو په تناسب یی دوطن په خپلواکۍ کې بنسټیز منفی رول ولوباوه ، افراطی بڼه غوره کړه .

په افغانستان کی دتولو باندنیو هیوادونو دسفارتونو په تناسب دروسانو سفارت زیات شمیر کارمندان درلودل اولری یی اوددې مطلب منطق او ثبوت ته اړتیا نشته چې په نړۍ کې دروسی سفارتونو غیررسمي اوغیرقانونی اصلی دندې داجنتوری چارې دي .

په افغانستان کې دروسانو سفارت چې دکابل دارالامان په ساحه کې یی پراخه ځمکه په خپله محوطه کې رانغښتې ده یوازی داستوګنې لپاره دمکروریانو اته لوی بلاکونه لري اوپه هربلاک کې په شلګونو اپارتمانونه چې دکوتو شمیریی زرګونو ته رسیږي جوړشویدي . څرنګه چې روسان دکورنی (فامیل) ژوند په سویه په یوه کوټه کې دژوند کولو سره عادت شویدي نودروسانو ذکرشوی سفارت دیوه ښارحیثیت لري برسیره پردې دمحمد ظاهردحکومت په اخیرو کې دکابل پولی تخنیك په انستیتوت کې داستوګنې څلوربلاکونه یوازی دروسانو کورنیو داستوګنې لپاره جوړشویدي لکه چې عملاً لیدل کیدل روسانو په افغانستان کې داجنتوری کارونو لپاره زیات مالي مصارف نه درلودل اودمالي مصارفو په بدل کې یی دخوږو زهرو څخه کاراخیست هغه داسی چې دښوونکو ، اسیستانتانو ، تکنیشنو ، لابرانتو ، تخنیکرانو ... ترنامو لاندی

یی دکی ، جی ، بی مسلکي غړي اودنومورو کارکوونکو دکورنیو ترپردې لاندې یی پر زیات شمیر ښځو اوپیغلو باندې چې یوازی اجنتوری چارې یی سرته رسولې دپولی تخنیك ساحه ډکه کړه ، دغو ښځو اوپیغلو دارونده اجنټانو سره په علنی او غیرعلنی ډول تماس درلود ، دهغوی دااړیکی چې په علنی ډولږي دمحصلینو اونورو افغانانو سره تردې نامه لاندې داجنتوری چارې په مخ بیولې چې ګنې مینه اومحبت ورسره لري اودیواویل دوستان اوملګري دي نوځکه دشپې اوورځې په

هرډول شرایطو کې سره لیدلی اوکتلی شي ، داستادی اوشاګردی ترپردې لاندې اړیکی خو جدا وې چې روسی ښوونکو خصوصاً ښځو به دمحصلینو سره درلودلې .

«کی ، جی ، بی » خویا داچی داستخباراتو مسلکی غړي داستادی ترپردې لاندې رالیږل اویا هرهغه روسی استاذ به چې افغانستان ته رالیږل کیده نوله کی ، جی ، بی سره داړیکو پرته داکارممکن نه ؤ.

دکابل ، مزارشریف ، شبرغان ، جلال اباد اودافغانستان په نورو ښارونو کې دمشاورینو ، کارپوهانو ، نفت اوګازپلټونکو اونورو کارونو ترپردې لاندې دکی ، جی ، بی پرسونل زیاتیده .

هغه افغاني محصلین چې روس ته دزده کړې په نوم لیږل کیدل اکثریت یی دکی ، جی ، بی همکاران شول اویو شمیر یی روسی ښځې راوستلې ، دغو روسی ښځو چې دافغاني محصلینو سره دازدواج ترپردې لاندې به یی په افغانستان کې استوګنه پیل کوله یاخوبه دکی ، جی ، بی غړې وې اویا به کی ، جی ، بی هغه وخت اړیکی ورسره ټینګې کړې اودکی ، جی ، بی په حلقه‌کې به ونښتې چې دکوم افغاني محصل سره به یی واده وکړ .

همدارنګه دظاهردتولواکۍ په دوره کې تولو پیلوټانو ، اکثریت دفاع هوا اودنورو نظامی مسلکونو زیات شمیر پرسونل ښوونه اوروزنه په روس کې ترسره کیده هغه نظامی اوغیر نظامی محصلین اوفارغان به چې په روس کې په مستقیم ډول سره کی ، جی ، بی ته جذب نه شول نوپه روانی لحاظ به

یی دې ته تیارکړي ؤ چې په غیر شعوري ډول سره دروس اوکمونیزم ستاینه وکړي.

دیوې خواخوپه روس کې دتولو بهرنیو هیوادونو محصلینو لپاره شخصی تجارت آزاد ؤ اویو شمیر اجناسوته یی په قاچاقی ډول هم اجازه ورکوله اودبلې خوا دانوی ځوانان به یی په پیغلو اوښځو باندې تردې حده مصروف اومست کړل چې وطن خولاڅه چې ځانونه به ترې هیرشول اوپه اصطلاح دیپلوم خوبی ګرنټۍ شوی مال ؤ نوکله به چې داځوانان بیرته افغانستان ته راغلل دخصلت اوروان له اړخه به دافغاني تولنې څخه پردي اوبیګانه خلك ترې جوړشوي ؤ ، دد وی دخبروعمده لوری په شعوري اوغیر شعوري ډول سره دکمونیزم ستاینه اودهغه مخالف جنس په اړوند ؤ دکومو سره چې به یی دحیوانیت جنسي اړیکې قایمی کړې وې اودافغانستان هغه ځوانان چې روس یی په خپلو سترګو نه ؤ لیدلی ، په خیالی ډول سره به په روسانو اودهغوی دحیوانیت په جنسی اړیکو باندې شیدااوعاشق شول اودځوانی احساساتو دتسکین پخاطر

په شپږم مخ

کږه خوله په سوك سمیږي

رحیمزی

له نن څخه دڅوکلومخکی خبره ده ، هغه وخت چې لا دکابل دتاج اوتخت واکداری له کارمل سره وه ، اودکابل اوسنی جمهوررئیس !! مزدورنجیب دخاددانسان وژونکی ، جنایتکاری دستګاه واکدار ؤ ، اوداهغه وخت ؤ چې دروس سوریرغلګر پوځ لا زموږ دمظلوم او مسلمان ولس پروینو دخپلو لاسونو په سره کولو لګیا ؤ !

په هماغه شپوورځو کې دهغه وخت دخادرئیس مزدورنجیب ! دخپلې یوی تلویزیونی وینا په ترڅ کی (چی ښه مې نه په یادیږی په څه مناسبت وه) وروسته له هغی چی ډیری عسکی اوتیتی وویلی ، اوددوی په اصطلاح « اشرار» او د« انقلاب ضد عناصر» !! یې وتکول ، دوینا په وروستی برخه کې یې مجاهدینو ته په اشاری سره وویل : « کږه خوله په سوك سمیږی »!!

نن له هغی ورځی څخه څوکاله تیرشوی ، زموږ په هیواداوپه نړۍ کې پراخ بدلونونه راغلی .

دافغانستان دمظلوم ولس پرونی قاتل « نجیب » چې دخاد په وحشتناکه اوانسان وژونکی اداره کې یې ددې ملت دبی وزله مسلمانانو په وینو لاسونه ترمړوندو سره کړی ، نن دکابل دتاج اوتخت واکدار دی !!

نن هغه روسی یرغلګر پوځونه چې پرون یی زموږکورونه ورانول ، زموږ شتمنی یې لوټولی ، اوزموږ پرمسلمان اوبی ګناه ملت باندې یی په زرګونه ټنه ناپالم بمونه اورول ، له شرمه ډکې ماتې سره اودجینوادترون ترپردې لاندې زموږله هیواد څخه وتلی دی !

پرونی دیکتاتور«نجیب » هم چی په سوکونو یې دخلکو خولی سمولی ، نن نجیب الله !! شوی ، اوله هغه کسانوسره چې پرون یې ورته د« اشرارو »او د«انقلاب ضد عناصرو» په نامه خطاب کولو ، دروغی جوړی دنلهوری غږوی ! کله لویه جرګه راغواړی کله هم دقومی مشرانو غونډه ! کله دیوه ولایت له سپین ږیروسره په هغه ولایت کې په اصطلاح دسولی اوامنیت دټینګښت پلانونه جوړوی اوکله هم له قوماندانانوسره دروغی جوړی افسا ن غږوی !

نن په کابل کی « دافغانستان دخلق دموکراتیك ګوند » هم نشته ، اوخپل ځای یی دوطن ګوند ته پری ایښی ! همداراز دکابل دمزدوررژیم نوم هم له « دافغانستان دخلکو دیموکراتیك جمهوریت » څخه د« افغانستان جمهوریت » ته اوښتی الدی څخه هم وړها خوا ، اوس په کابل کی « دافغانستان دخلکواسلامی ګوند »هم جوړشوی اوپه خپلو فعالیتونو یې لاس پوری کړی !

> دازموږ دمجاهد ولس دربشتیني ایمان اوبي ساري قربانیو نتیجه ده ، چي هماغه نجیب کوم چي پرون یي دانقلاب ضد عناصرو خولي په سوکانو سمولي نن دومره په شاتګ کوي چي له هماغه خلکوسره مذاکري اوحتي دقدرت دواګو شریکولو ته هم تیاردي !

په همدې ترتیب اوس اوس نجیب دوطن ګوند ، دګوندی بیرغ رنګ اونشان هم بدل کړی !

لنډه داچې له هغی ورځی څخه راپدې خوا دکابل په مزدوررژیم کې خورا زیات بدلونونه راغلی ! اوس نجیب هغه پرونی نجیب نه ښکاری !

دازموږ دمجاهد ولس دربښتینی ایمان او بی ساری قربانیو نتیجه ده چې نن هماغه نجیب کوم چې پرون یې « دانقلاب ضد عناصرو » خولی په سوکانو سمولی نن دومره په شاتګ کوی چی له هماغه خلکو سره مذاکری اوحتی دقدرت دواګو شریکولو ته هم تیاردی ...

زموږهیوادوال داهم په یاد لری چی نجیب دخپل اقتدار په لمړیو وختو کې دیو لړ نمایشی (غایبانه محاکمو) په ترڅ کی زموږ دجهاد دیو شمیر نامتو قوماندانانو داعدام حکم صادرکړی ؤ!

ولی نن نجیب له هماغه قوماندانو څخه غوښتنه کوی چی راشی اوله ده سره دهیواد دسولی اوامنیت !! په ټینګښت کی مرسته وکړی ! پدې کې دشك ځای نشته چې دنجیب دغه ډرامو نورخپل ارزښت له لاسه ورکړی اوپه هیڅ بازارکې خریدار نلری ! نورزموږملت په خوږه ژبه اونرمه لهجه نه غولیږی !

هغه ملت چې دخپل پرله پسی اونه ستړی کیدونکی جهاد په وسیله یی روسی ښکیلاګر پوځونه دې ته اړکړی چې په مات اوګوډ بدن ددوی له خاوری څخه ووزی ، څرنګه کیدای شی دنجیب پدې شعبده بازیو وغولیږی !

که څه هم پدې ترڅه حقیقت باید اعتراف وشی چی دروسی یرغلګرو له وتلو څخه وروسته ، لکه څرنګه چې موږادعا درلوده وموڼشوای کولای په هغه بشپړه توګه په عمل کی پلی کړو ولی داهم باید هیرنکړو چی دهمدی مجاهد ملت دمټو زور دی چې نن نجیب لکه اوبو وړی ، هرخس اوخاشاك ته لاس اچوی ، ترڅو وکولای شی خپل ځان پری پوری باسی !

په شپږم مخ

جهادي ادب

دغرونو باده درلندي ګام کړه
دمظلومانو روح په ارام کړه
دشهیدانو واړه زګیروي لا
ګرځي فضا کې ورسره پام کړه

اې دازادۍ ناوې

هيلي غوړيدلي سره ګلونه به دروړم درله
ډك له اميدونو نه هارونه به دروړم درله
ستاچي داژړ رنګ ترينه بنه ، بنه سرخي بيا واخلي
داسي ځيګري سره پرهارونه به دروړم درله
زه چي ستالپاره دخپل سرسودا ارزان ګڼم
هسي جنازه كي ارمانونه به دروړم درله
ستاپه خاطر ماچي درقيب چروته ايښي ده
زه ددي سوري سيني داغونه به دروړم درله
نن چي زموږهركوركي هرڅه نه پريمانه دي
ډك له سپينو اوښكو سره جامونه به دروړم درله
بنه چي پري كتاردي ستادميني دهوس ستوري
شنه ، شنه دبي وزلو اسمانونه به دروړم درله
دادي كه هم خوښ نه شول بيا هم بنه تحفه لرم
غوڅ په بم ، چوو باندي سرونه به دروړم درله
وايه چي نورڅه غواړي داد وس خبره وه
دي نه زيات څه نشته تش عذرونه به دروړم درله
وي چي د«ننګيار» پكي سري دسره ځيګرنيني
وينو كي يي خولم ، خولم غزلونه به دروړم درله

محمد عارف « ننګيار»

لنډه کیسه

دانتظار شیبې

سیدشهریار

سبارخړپړوګردونو اوچوپې چوپتیا په سراخیستې ؤ اشنا سترګی کمی اوناشنا سترګی ډیری وی اوکه کوم یو اشنا به وو هم نوځادریه یی په غوړونو پروت اودپیژندیو سترګو څخه به یۍ سترګی پټولی داسی ښکاریده لکه داټول چی دچا په تمه اویا دچا انتظارکوی اوریښتیا هم په مخامخ زندان کی څوك دمرګ په انتظار او څوك دخلاصی:دریئس دکورمخی ته فرید دریئس صیب دراوتو په انتظار اوریئس صیب په خپله مهمان خانه کی دخپلو میلمنو سره یو ځای دشرابو په انتظار ،

په فرید باندی دانتظار دغه شیبې دکلونو په شان تیریدی ځمکی ځای نه ورکاوه کله یو ځای اوکله بل ځای ! ډیروخت تیرشو که عسکرته یی بیاوریاده کړم عسکرپه قهرنه شی که خبری میلمانه اویا رئیس صیب واوری خودبدنه به بدتره شی ځکه چی نفر خدمت خوبی راته مخکی ویلی ؤ صبر کوه رئیس صیب لاوزګارنه دی ستاپرزه ورته ما په میز ایښی ده پخپله به یی راواخلی ـ نه ورته نور زه څه ویلی شم اونه نوره تاته دخبروکولو اجازه درکوم څه ها غتله وړاندی کینه دډیری غتمی سویی میلمانه یی راغلی دی خارجی اوداخلی،

فرید به له ځانه سره وویل فکربه یی شی ورته اوپخپله به یی راواخلی اخرداهم دامرصاحب دلاس رقعه ده دومره بدبه نکوی فرید بیچاره دسهار داوویجو څخه درئیس صیب دکورمخی ته اوړیدلو راوړیدلو دغرمی ډوډی یی هم ونه خوړه که ـزه کوم پلو لاړشم اوزما دنصیبه رئیس صاحب بلی خواته مخه کړی نوپه کورکی به څه وایم دادابه راته وایی چی ته ماددی لپاره لیږلی وی چی ته په ښار کی چکری وهه یوه ورځ دی نهره نشوه تیرولای اودورور دحاله دی خبرځ چی په زندان کی په هغه باندی څه تیریږی نه ډوډی کله خوړی شم زه خوچی سهار راروانیدم نوما خوڅکه هم نه وه کړی اونه څوك په کورکی څکه کولای شی دکومی ورځی نه چی لالا نیول شویدی نو زمونږه اشتها بنده شویده زه به په ډوډی باندی څه وکړم څوڅوکرته خومخ په قبله ودرید لاس خوبه یی له

(٥)مخ کي

جهادي لنډۍ

دغره په سرلاتين بلېږي
ګمان مې كيږي مجاهد ترون كوينه
مجاهدين په اتفاق دي
ددين په لاركې په شاتګ نه قبلوينه
دشهيد وينو كې اثر دی
ځكه روسان په هرميدان كې ماتي خورينه
مادپكتيا ترغرونو ځاركړي
چي يي دسرو روسانو مات كړل ورميږونه
دجيلخاني بنديان به راشي
دتورو خاورو شهيدان كله راځينه

تکل

شفیقي

دجذباتو مراندي

په جومات کي نور دچا دپښی ایښودلو ځای نشته ، ګڼه ګوڼه اوشور ماشور دومره زیات دی چی خبره پکی نه شی‌بیی کیدای ، زما پرذهن دننني ورځی پیښی ګرځی راګرځی ، ښایی ډیر نور به هم داسی وی خو زه چی ځان ګورم نو که می څوك په اوږه لاس کیږدی غرغوږ او دچا سترې مشی او سلام خو هیڅ اورم نه ، ښایي ډیر کسان به همداسی په پټه خوله رانه تللی وی .

کله کله می بیراوبار او شور ماشور ته پام شی او چی بیا دخلکو په منځ کي سپیره سرونه او شلیدلی دریشی خړې پوځیان وینم نو بیرته سملستی زما دذهن په پرده دنن ورځی پیښی له سره تکرار شی .

لکه فلم چی ګورم - لکه ښه حماسی فلم ، یا دتاریخ کومه پاڼه لولم ، یوه حماسی او ویاړمنه پاڼه ، په ځان ونه پوهیږم وجود می تود غوندی شی او ویښتان می له ډیری خوښی شخ شخ ودریږی . چی دخیال مارغه می له الوتلو ستړی شی او بیرته راوګرځی دجومات ګڼی ګوڼی ته می پام شی شاوخوا لویان ماشومان - مجاهدین او کلیوال وینم اوبیامی ناڅاپه نظر زما

(٥)مخ کي

خاطره

محمد ظاهر «بابري»

دهیبتونو سمندر

هلته چی ددرندو درندو هتکړیو غږاوشرنګهار سره داسیرو مظلومانو دژوند دایمی ترانی جوړولی هریوه به دخپل مستقبل په تصوروونو اوخیالونو کی ډوب دغه ویرونکی اوږده لړزونکی شپی سباکولی .

دژمی یخه شپه وه چی دکوټی ورخلاص شو دتحقیق دمدیر ناولی څیره می سترګو ته شوه په زړه کی می بیا دویراووحشت انګازی ګډی شوی ، هك پك پاتی شوم ګومان می کاوه هسی نه چی دنوروشپوپه شان می دتحقیق لپاره غواړی ... دنظارتخانی امرته یی په تنده لهجه وویل داهم بوزه ددی خبری په اوریدوسره دهغوخیالونو څپو ته پریوتم کوم چی هره لحظه مودهغی انتظار ایست ، خوکله یی چی دکوټی نه بهرکړم اودنظارتخانی لوری ته یی روان کړم ، بیا می په زړه کی دیو څه مودی ژوندی پاتی کیدوهیله پیداشوه نظارتخانی کی پداسی حال چی دتهولو کوټو څراغونه مړه ؤ کوټه یی راته معلومه کړه کله چی کوټی ته په تپه تیاره ننوتم دهریو چپرکټ نه رابانـدی دستړی مه شی غږونه وشو ماهم ستړي مه شی ورکړه ، ورروسته دځګرویو سره یو زخمی زړه دزوره دستړی مه شی اوازرابانـدی‌وشو ماهم دژوندی اوسی غږیری وکړ

اودهغی په فکر پریوتم ، زړه می ناطاقته شوه دهغی نه می پوښتنه وکړه چی کاکا ولی! مریض یی ! سوړاسویلی یی ویوست اووېی ویل هوا!! مریض ! مریض یم . پدی وخت کی پهره دار دروازی ته نږدی شو اوپه قهرجنه لهجه یی وویل ویله شی قصی موبس کړی ... دپهره داردغږسره بیا هیچا داجرئت نه درلود چی دخولی نه اه وباسی .

دکوټی په تیاره کی چوپه چوپتیا خوره وه خوداړونکو وحشیانو دتهولو زړونه داسی داړلی وو چی هریوه به دهیبتونو په سمندر کی ډوب توله شپه په ویر اوبی خوبیو تیرولـه ، چا بـه دمرګ انتظارایسته ، چابه دبګو ،وواپه سره دلښتو ګذارونه دفتبال اوتکو اندو تمرینونه اودبرقی اونورو شکنجو حالتونو انتظار لړه شیبه ورروسته دنظارتخانی ورخلاص شو اودوردخلاصیدو سره سم دوای ، خدایه ! توبه اواز موترغوږشو ددی غږ په

(٥)مخ کي

دادمیړواومیړنو خاوره ده

سید عبدالله پاچا

دادمیړواومیړنو خاوره ده — دننګیالیوشازلمو خاوره ده
داحمد شاه اودمیرویس دپچو — دمیړنتوب اوکارنامو خاوره ده
پخپله خاوره کي ربښتيني مينان اوسيږي
دلته ستي ددين په شمع پتنګان اوسيږي
دادشاهين اودبازانو وطن — دشنو زمرو اوسربازانو وطن
په غرورغوبي دغيرت نښي دي — دننګياليو باتورانو وطن
دادپټمنو اوغيرتي مسلمانانو كوردی
پخپل تاتوبي دسرتيرو افغانانو كوردی
دلته دسوك خواب په سوك وركول كيږي مدام — دهرځواكمن اوظالم پوزه خاوري كيږي مدام
دښكيلا ګګرو زورهمدلته اوبه كيږي مدام — درسوايي اسباب يي دلته نه جوړيږي مدام

كه باورنكړي څه تپوس له انګريزانو وكړه
دافغاني همت تپوس له سرو روسانو وكړه
دلته په زورسره څوك ظلم چلولي نشي — ددي ملت ګروهه په هيڅ شان بدلولي نشي
دازادي نعمت تري هيڅوك اخيستلي نشي — ددين دښمن بيرته په روغ بدن وتلي نشي
روسه بدبخته پدي ملك دي ولي بريد كولو
دبي ضميره وطن فروشو دي خريد كولو

دانتظارشیبې ...

ویری اوچت نه کړخوبه زړه کی به یی دوعا وکړه خدایه ته خورئیس صیب دمیلمنو نه زرواوزګار کړی که زموږداکاروشی اولالا خدای پاک دبنده راخلاص کړی نوځومره دخوشحالی خبره به وی دسرك پلو به یی وکتل که بل څوك راشی اورئیس راووځی نوهم ښه به وی چی څوك به یی ونه لید نورابه غی اودرئیس دکورمخی ته په وړه باغیچه کی به په سیمټی چوکی کښیناست ډډه به یی ووهله اوپه چورت کی به ولاړ څوخوپیری خوترینه نااشنا ځیروپوښتنه هم وکړه ، ته دلته څه کوی هلکه ؟ فرید به زردچوکی نه راپاڅیدپه ډیره غلی اوخوږه لهجه به یی ځواب ورکړ ګوندی دی راسره څه منهه تره ووهی یره صیب زما مشر ورور یی ګناه بندی شویدی فلانکی امرصیب په رئیس صیب باندی یوه رقعه راکړی وه چی دی به درته لارسیخه کړی زه راغلی یم دی ورور (درئیس نفرخدمت ته به یی ګوته ونیوله) خطوروړی دی ده به لاخپله خبره نه وه خلاصه کړی چی هغوی به ورغوڅه کړه ښه کینه راخلاص به یی کړی که دفرید په زړه کی به کوم دامید نیالګی شین شوی و نوهغه به ددی ظالمانه اوله غروره په ډکو خبرو وچ کلك شو بیرته به پخپل ځای کښیناست په زړه کی به یی وویل ښه ده چی دادا نه دی راغلی داخوله یوی مخی ټول رئیسان اوامران دی پلاریی چی پرون دامرصاحب نه رقعه راوړی وه نو په کورکی یی ویلی ودارقعه به فرید یوسی ځکه په زړه کی می سودا شوه خلکو راته وویل ته ښار ته مه ځه اودرئیس صیب سره مه مخامخ کیږه تاچی داسپین پټکی په سرکړی وی نوبلا دی په سرکړی ده ما خلکوته وویل خیردی که دا وجه وی خوزه به دادسر څخه لری کړم ، وی نه داخوبه لری کړی خوداسپینه ږیره اوداوږدی جامی به څه کړی بل څوك وروليږه نوفرید جانه ته به ورشی دمخی دی رنها شه ستادبیرته راتګه پوری داوخت به په ماباندی څنګه تیریږی خوبچیه پام کوه دچاسره هیڅ بحث مه کوه که چا هرڅه ویل ته پکی هیڅ مه وایه بس ورته وایه ساده خلك یوپه دی عصری خبرونه پوهیږو ځکه چی اوس زموږ مجبوری ده فریددپلارخبری تکی په تکی اوریدلی وی اوعمل یی پری کړی ؤ .

دلته په فرید باندی په تمه تمه کی مازدیګر شو څوځلی خوبی پدی خپله بده ورځ زړه راډك شو خوبیا به یی توبه وویستله څه خدای دی خیر راپیښ کړی ځکه چی اخر زه هم انسان یم یا خوراته څه لاره وښایه اویا

خوراته رخصت راکړه چی پخپله مخه ځم خوله وسه یی هیڅ نه و څه دالمونځ خوبه چیرته وکړم دلمانځه نه چی راغی نوعسکر اونفرخدمت هم ورك شوی ؤ کورکی به ددادا څومره سوداوی داعسکر خوهم کورته ننوتی دی چی هغه ته خومی یوواری بیا ویلی وی خوفرید څه خبرو چی رئیس صاحب ته په تحفه کی دخارجی میلمنو لخوابنه زاړه شراب ورکړای شوی و چی په څکلو باندی یی ټوله مهمان خانه نیشه نیشه وه داخولا یوه وړه پرزه وه که دپرزو یوغټ ګیلړی هم وی نودرئیس صیب پری څه پردی زامن دی .

هلته په ټوله مقام خان قلعه کی دقمرالدین کاکا ځای ورك شوی و کلـه به دسرك غاړی ته راووت اوکله به دکلی منځ ته ورغی داڅنګه اوږد کارشو ، داڅه لیونی دی که رئیس نه وی اوبایی نکوی خوراڅه ترینه دعبدالرحمان دی خدای پاك مل شی اوپخپله خدای (ج) دی راخلاص کړی صبریی نه کیده که کورته به راننوت نوپه کورکی دواړه اوزاړه سترګی په اوښکو سری وی ، ویر او ساندی به وی اوله ده څخه به ديوه پوښتنه کیده

فرید نه ښکاری دابه څنګه شی ؟ نه هیڅ درك یی ځلګی خدای خبر چی څه ورپیښ شوی دی ، په ښارکی په فرید باندی دماښام تیاره راخوره شوه ښه زه اوس څه وکړم څوك که شپه راکړی خوښه به وی زه به اوس څنګه لاړشم که دګزمی سره مخامخ شم نوڅه به ورته وایم اوکه نه ځم نو دکورپه خلکو خوبه داشپه داوړپه سکروټوتیره شی بس نورنه حصاریږم په خدای توکل کورته ځم راروان شو خوقدمه یی هم راواخستل خوبیا یی فکروکړ راشه یووار خودادروازه ودبوه که په حال احوال پوه شم دروازی ته به چی ورنږدی شوله ویری به یی لاس نه شو وروړای بده یی ونه ګڼی داڅنګه ارامه ارامی ده په ډیر جرات چی یی دروازی ته ډب ورکړ نوسمدستی یی لاس یوزوروټکان وخوړفرید له ځانه سره وویل شاید په خطا کی دبرق تارورسره لګیدلی وی اوبیا یی کیدای شی له ویری پخپله ورسره غوټه کړی وی نوره یی نه ډبوم چی لس شل قدمه دکورددروازی څخه راوړاندی شو نوپخوا کی یی یو خرجیپ بریك وواهه څلورمسلح کسان ترینه راکوزشول ددریش غبرګی پری وکړ تاته دډیر وخت نه زموږفکرو څوځوکرته دروازی ته ورغلی اولاړی ددی خبری سره سم یی فرید په خوله دټوپك په کنداغ ووهلو خوله یی له وینو ډکه شوه یوڅوڅورلکونه یی وخوړل ویری هم واخیست ده خبری ته ځان جوړاوه چی یویل ځناور پری دلغتی ګذاروکړ پرله پسی پری اوه اته ګذارونه وشول ، ووایه اشرارو دکوم پلان لپاره رالیږلی وی؛نه ولاکه زه دورانی لپاره راغلی یم زما درئیس صیب سره کاروُپوښتنه تری وکړی اوددی خبری سره سم یی بیا یو څو لغتی اوسوکونه وواهه په سربانـدی یی ورتـه دکلاشینکوف میبوکه کیښوده پورته شه جیپ ته درئیس صیب سره دی کاروُ ؟ تیاری زورکړی ؤ جیپ خپل غبرګ برقونه ولګول اوپه یو شغ روان شو اوبیا نه فرید خپل کوروليد اونه یی پلارته جواب یوور .

دکندزپه ولایت کی د مجاهدینو او دکابل رژیم دقواو ترمنځ نښتی

کندز- میډیا :
دکندز له ولایت نه میډیا ته درسیدلی یوه رپوټ له مخی مجاهدینو دحوت په ۱۲مه نیټه دکندز ولایت دشیرخان بندر اودهغه دشااوخوا پوستو باندي یولړبریالی عملیات ترسره کړل چی دهغی په نتیجه کي دکمونست رژیم پنځه تنه عسکر اوملیشه مړه او اوه تنه نور بي ټپيان شويدي .

رپوټ زیاتوی چي پدي جګړه کي مجاهدينو ددښمن عسکرو ته سربیره پرمالی اوځانی تاوانونواړولو ،دهغوی نه یوه اندازه مهمات ولجه کړيدي .

دجذباتو مراندې ...

مخی ته دجومات په منځ کی پر پنځو شپږو تنو پوځیانو پریوزی او بیا زما

دخیال مارغه وزر ټپولی وی او دنن ورځی په پیښو له سره راوګرځی ...

چایونه خوړل شوی وو خو لا غرمه شوی نه وه چی دقوی دکوچ او بار غږ شو ، او بیا په ډیره بیړه له هر کور او جوماته وسله وال ځوانان را ووزی ، پوری په سړك ټانګونو او پوځی موټرو دبی شمیره پلیو په بدرګه او څارنه منظم کتار جوړ شی او په دی غاړه مجاهدین دی چی یوازی په تش ټوپك یی اسره ده ، وینم چی دغه دواړه کتارونه یو بل ته څیرمه غبرګ ښکته روان دی.کچه غرمه ده ، خوله کلیو نه دغرمی دودونه نه پورته کیږی دژوند عادی جریان په ټپه دریدلی ښکاری ، ټول منتظر دی ، نارینه' تورسری'ماشومان لویان ټول په انتظار دی ، دخدای« ج »په دربار کی میندو خولی غوړولی ، سپین ږیرو لاسونه لپه کړی نن به دلته یوه فیصله کیږی ، دحق او باطل تر منځ یوه تاریخی فیصله . دسیند دواړو خواووته دوه کاروانونه یوبل ته څیرمه لا روان دی ، یو کاروان ډیر لوی دی - موټر او ټانګونه لری منظم کتار یي جوړ کړی ، ټول یو ډول دریشی'یو ماډل وسلی او یو ډول ارادی او حوصلی لری ، دټولو ګامونه درانه درانه کیږی لکه چی له فیصلی نه ویریږی او لکه چي په خپل دریځ او انجام شکمن وی ، خو بل پلو دهمدغه ولس بچیان دی دټولو روایتی جامی دی ، نظم یي دیوبل تر مخ کیدو په وجه وران دی ،او همدغه یو له بله مخ کي کیدل یي شاهدی وایي چي دپریکړی ډګرته یي ډیره تلوسه وی ، لکه چي پخپل بری پوهه واړه وی ، هغه مزل دی چی دمشر او کشر داحترام رعایت پکی تر پښو لاندی دی هیڅوك هم ځان تر بل کم نه ګڼی ...

دواړه کاروانونه پر مخ ځی خو یو بل ته یي فاصله لنډیږی او بیا له یو درز سره ناڅاپه سیمه تکبیرونه او دټوپونو او ماشینګنو ډزونه ولړزوی تر ډیره وخته سختی ډزی او دتکبیرآوازونه اوریدل کیږی ، تونديږی اوزیاتیږی .

په همدغه ګړزاو ګړوز کي دلوی کاروان له منځه دموټرو او ټانګونو توری لوخړی پورته شی ، لکه دتور زړو تورتور ارمانونه او نیتونه چی سوځیدلی وی .

زما دخیال مارغه دتیری ورځی پر ټولو پیښو راګرځی مازدیګر چي مجاهدین څو ټانګونه او موټر په لوخړو او لمبو کي پریږدی او پورته روان وی پرتهنډو یي دننني پریکړی آثارله لري ځلیږی ، دحق او باطل تر منځ فیصله شوی ده دباطل پولادی پیلان دمجاهدینو په ابابیلو ځای پرځای ګونډه شوی دی دخدای «ج» دبنده ګانو سرونه په شکرانه دخپل معبود په دربار کی په سجده پریوزی ، له کلیو نه ایله لوګی پورته شی. دژوند عادی جریان پیل شی ، کلی په کلی د بریمن کاروان هرکلی او دبری دوعاګانی وی دتکبیرناری، دجذباتو مراندی شلوی چی په واز کومی دحق دبری او باطل دماتی اعلانونه کوی

دهیبتونو سمندر ...

اوریدوسره دهغو څګرویو اواز چی زمور په کوټه کی پورته کیده په نارو ، چغو اوواویلاو بدل شو ، چی خدایه ! هغه یی راوست اوس به بیا زما نوبت وی...رښتیا هم چی هغه یی په کشولو ، کشولو راوست اویلی کوټی ته یی ننویست .

وروسته زموږدکوټی ورخلاص شو اودور دخلاصیدو سره دمحمد بازه پاڅیږه غږوشو .

محمد باز چی ټوله شپه له ډیره درده په څګرویو اودهمدی حالت په انتظار ویښ ناست ؤ خبری یی بندی بندی کیدی وویل چی بیاراغلی ! دخدای په خا! خا!! دخاطر کلمه یی نه وه پوره کړی چی ولویده اوبیا یی دخبرو کولو اوتللو توان نه ؤ په شرابو مست روسی ایجنټانو هغه په ځنځولی له کوټی نه بهر کړاوبیا یی دشکنجو دستګاه « یعنی داستنطاق خونی » ته وروست .

سهارلړلانه و ختلی چی محمد باز یی په کښولو بیرته راوست هغه محمد باز چی شلیدلی جامی یی په غاړه ټول بدن یی پرهر ، پرهراوپه پرهرونو کی یی دظالمانو دظلم نښی نښانی اوپه زړه کی یی دوحشتناکو هیبتونو لړزونکی خاطری .

کله چی زما سترګی پری ولګیدی دهغی په ځوریدلی حال بی حاله شوم چی دهغی ماته پام شو زما دخیالونو تنابونه یی وشلول اوماته وویل چی وروره په کومو فکرونو ډوب شوی اوپه نمجنو سترګو اوځوریدلی لهجه یی خپل تیرشوی حالت داسی بیان کړ :

زه اوهغه بل هلك چی شپی تاسو دهغه ناری سوری واڅیدی اودهغه ورور یوځای دروسانو لخواونیول شو دنیولو په وخت کی یی موږ دری واړه دټانك پوری وتړلو اوترډیری فاصلی پوری یی کش کړو او وروسته یی موږ خپل قرارګاه ته یوړلو کله چی دهغوی قرارګاه ته ورسیدو بیا یی تروهلو لاندی ونیولو دهغوی په خبرونه پوهیدو چی څه وایی اوځه غواړی له موږنه خودومره پوهیدو چی یو بل ته به یی ویل چی (بسمچی ، بسمچی)اوددی خبری سره به یی پوښتنی وهل شروع کیده اوپه دوهمه ورځ یی دخوږونکو سپیانوسره واچولو اوزما دبدن دغه شکیدلی پرهرونه چی ګوری داټول هماغه سپیانوخوړلی ، اوپه بدن می چی داشین اوتورداغونه ګوری هماغه روسانو داوسپنی په سیخانو وهلی یو وروسته له څلورو ورځو وهلو ، ټکولو، داړلو ، اونورو رنګارنګ شکنجو څخه زموږ ددری واړو په غاړو کی یی حلقی واچولی اوپرله پسی یی دکرین په کیبل کی ځوړند کړلو پس له څوشیبو نه کله چی بیرته یی ځمکی ته ښکته کړلو خوړونکی سپیان موږ نه چاپیره شول چی پدی وخت کی یو غټ سوررروسی په قهقه خندا سره موږته رانژدی شو سپیان یی له موږنه لیری کړل ویی لیدل چی زه اوزما هغه بل ملګری چی هغه بله کوټه کی پروت دی ژوندی یو اوزما دهغه ملګری ورور چی په کرین کی زموږ نه سرته ځوړند شوی و دهغی روح له بدن وتلی اودشهادت عالی مقام یی ګټلی اوپداسی حال چی موږورته کتل هغه یی په کشولو ، کشولو چی خوږونکوسپیانو وریسی منډی وهلی له موږڅخه یو څوقدم مخکی په یوه کنده کی واچول اوسپیانو تری تاوشوه اوهغه یی خوړلو اوموږیی په ځنځولی اوکشولو امبولانس کی واچولو اوخپلو دی نوکرانو ته یی دتحقیق لپاره وسپارلو .

په تيرپسي :

مونږ په افغانستان کي څه وليدل ؟

دمسلم ژباړه

(۱۹) کلن « بوژاکوف وکترايوانويچ » کله چی ثانوی زده کړی سرته ورسولي غوښتل يي په زراعتي فارم کي دخپل پلارسره دنده سرته ورسوی ، خوپوځی خدمت ته ترراجلبيدووروسته هغه پروگرام شنڼشواوهغه دخپلی سيمی « اچ گويه » څخه د« ترمذ » ښارپوځی اکاډمی ته وليږل شو ، دهغه کور د« اورال » د« کورگان » ښارپه سيمی کي دی د بوژاکوف پلار « گوژوف ايوان ايلچ » يوه زراعتی فارم کی تهريکتهرچلاوه اودهغه سپين سری موردکورچاری پرمخ وړی په ۱۹۸۲ کال کی هغه د« کورگان » ښارله يوه ثانوی ښوونځی څخه دثانوی زده کړو شهادتنامه لاس ته راوړه ، هغه زياته علاقه درلوده ترڅوکوم پوهنتون کي خپله زده کړه تعقيب کړی خودکورنی داقتصادی ستونزو له امله يی دا کارونشو کړای ، د۱۹۸۳ دفبروری په مياشت کي هغه يوه پوځی مرکز ته وليږل شو چی هلته يی دنظامی زده کړوسربيره دری مياشتو کي دريوری هم زده کړه ، تردری مياشتی زده کړی وروسته هغه ددی پرته چی ورځنی وپوښتی کوردی چيرته دی يوی پوځی الوتکی کي سپورکړای شو اونامعلومی خواته يی سفر پيل شو ، په دی الوتکه کي دده په شان ۳۶۰ نورځوانان هم سپاره ؤ دْته دسفر معما هغه وخت حل شوه کله چی ددوی الوتکه دکندز په هوايی ډگرکي راکوزه شوه دوی ته هغه وخت معلومه شوه چی دوی افغانستان ته ليږل شوی کله چی هوايي ډگر کی لوړرتبه صاحب منصبان استقبال ته راغلل ددری ورځنی استراحت وروسته هغه ته دنده وروسپارل شوه ، چی دهغی له مخی به يی دتيلو دټانکرو په وسيله تيل دشمالي ولايتونو څخه ، کابل ، بگرام اوگرديز سيمو ته رسول « بوژاکوف » وويل : « دتيلو دټانکرو دامنيت لپاره به ټانکونه اودوسله والو پوځيانو ډك موټر دقطارمخی اواخرته روان ؤ خوددی سره سره به داکاروانونه دمجاهدينو له حملو څخه نه بچ کيدل ».

ديوه ترخه سفرديادتازه کولو په ترڅ کی « بوژاکوف » وويل :

« دتيلو دټانکرونو يوکاروان چی په هغه کی پر پنځوس ټانکرو سربيره اته ټانکونه هم شامل ؤ اوزما ټانکرهم په دی کاروان کی ؤ دشمال څخه دجنوب خواته په سفر کی ؤ ، زموږ دسفر منزل جلال آباد ؤ چی دجلال اباد کابل په سړك کی دجلال آباد څخه څوکيلو متره لرې مجاهدينو زموږپر کاروان دراکټونوحمله وکړه دهغوی دډزوله امله دشپاړس ټانکرونوسربيره څلورټانکونوهم اورواخيست ، زما ټانکرهم په گولۍ ولگيدو دټانکرڅخه تيل دفواری په شان بهيدل ، خوتيلو اوروانخست موږته دقوماندان له خواامرشوی ؤ چی دله منځه تللو ټانکرو په باب دفکرپرته په چټکۍ سره پرمخ ځی ، زه پرمخ لاړم اوڅوساعته وروسته جلال اباد ته ورسيدم ، هلته چي ورسيدم ماوليدل چی زما ټانکر دتيلو څخه خالي شوي ؤ ټول ټانکرپه گوليو سوری ، سوری شوی ؤ خو زه داورله دي طوفان څخه خلاص شوم ».

«بوژاکوف » دروسی پوځ څخه دخپلی تيښتی دبيانولو په ترڅ کی وويل :

« ماتريوولس مياشتو پوری خپله دنده په ښه توگه سرته ورسوله » خوترڈی وروسته يوی پيښی دهغه دژوند تگ لاره بدله کړه اوهغه مجبورشو چی دروسی پوځ سره خپلی اړيکې پرې کړی اودمجاهدينو سره اړيکی ټينگی کړی راځی داپيښه د« بوژاکوف » له خولي واورو:

« په وروستی ځل چی ما تيل واخستل بگرام ته لاړم ، دټانکرتر خالی کيدو وروسته زه ددوو نورو ډريورانوسره يوی نږدي وپالي ته لاړم ، موږدری واړه دي ويالي ته دخپلو موټرو مينځلو لپاره تللی وو ، خونه پوهيږم کله چي وپالي ته ورسيدو زما دملگرو په زړه کي څه وگرځيدل چی ماته يی امروکړ لومړی بايد زموږموټرپرېمنځی خوکله چې ما دهغوی دامر له منلو څخه سرغړونه وکړه ، هغوی زما پروهلو پيل وکړ ، هغوی يوخودوه ؤ اوبل زما څخه قوی ، په دي خاطر ماهغوی ونه شو وهلی هغوی زه ښه ډير ووهلم اوکله چي وهل دحد څخه زيات شول اودهغوی دزياتو وهلو دلاسه تيې شوم ماته سخته غصه راغله دخپل موټرخواته می منډه کړه دهغه څخه مې خپل کلاشينکوف راواخيست اومخکی تردي چي هغوی ماته راورسيږي ماوړياندی ډزی وکړې يوځای په ځای ووژل شو اوبل ترټپی کيدو وروسته ولويد ، تردې وروسته حالات زما په گټه نه وو اوکه زه هلته لږ پاتی شوی ولی اويا مې ځنډ کړی ولی نورروسی پوځيان به راغلی ولی اوزه به يې نيولی ولی په دي خاطر ما دځنډ پرته دپوځی مرکز مخالفی خواته منډې پيل کړې ، دزياتو منډو وروسته زه يو کلی ته ورسيدم سخت ستړی شوی وم اونورراته يو گام اخستل هم گران کارؤ اودبلی خوامي لوږی ستړيا دوچنده کوله ، لږڅه ليری ما دپنځو ، شپږو کالو په عمريو هلك وليد هغه ته مي ځان وروررساوه هغه چي زه وليدم ودارشو غوښتل يي چي وتښتي خوما دلاس څخه ونيوه اوپه اشارو مي پوه کړ چي زه سخت تږی اووږی شوی يم تردې وروسته دهغه ويره لږي شوه ، ماته يي دوني لاندې دکيناستلو اشاره وکړه اودی دخپل کورخواته روان شودڅوديقو وروسته دی زړورهلك ماته ډوډی اواوبه راوړې ماچې ډوډی وخوړه هغه زه دلاس څخه ونيولم اوپه اشارو يي دکورخواته دتلو خبره راته وکړه ، ماته ددې مهربان هلك دخبری دمنلو پرته بله چاره نه وه دزيات مزل څخه وروسته موږدمجاهدينو مرکزته ورسيدو دلته دقوماندان مومن خان اودهغه دگروپ له مجاهدينو سره زما ليدنه وشوه ماسره يو کلاکوف اوڅلورججوری وې ، هغه مي مومن خان ته ورکړه ، ډير خوشحاله شو زه دخپلو ملگرو دلاسه زيات ټپی شوی وم ، مجاهدينو په ډيري همدردی اومهربانی سره ماباندی پټۍ ولگولې اودڅوورځو تداوی وروسته زه بلکل روغ جوړشوم.

ماتقريباً يوه يوه نيمه مياشت دمومن خان په مرکز کي تيره کړه ، اوترهغی وروسته مجاهدينو تصميم ونيوه چي ما دپکتيا ولايت ته انتقال کړی زه دمجاهدينو سره په موټر کي دپکتيا په لور روان وم چي دسروبی په سيمه کي مي دروسی الوتکو درنه بمباری وليده .

په افغانستان کي دروسيی پوځيانو سره دخپل يوولس مياشتنی دوران په باب بوژاکوف وايی : « دادويرې اووحشت ورځې وې ، پوځی صاحب منصبانو به

په اووم مخ

په افغانستان کي روسی تولنې ته ورته ټولنې دجوړولو ارزوگانو يی دشيطان په خير ځانونه وتوخنول . په عسکری قواؤ کي دروسی مشاورينو شته والی اوپه روس پورې دوسلو اونظامی تجهيزاتو منحصرکيدل بل هغه عامل ؤ چي افغانی ټولنه يی دپاڼ خواته کشوله اودکی ، جی ، بی دشومو پلانونو دعملی کولو لپاره يی مناسب شرايط برابرول.

کی ، جی ، بی دسفارت له لارې وکولای شول چي د۱۳۴۳ هـ ش کال څخه پخوا په پټه اومخفی ډول سره په افغانستان کي يو شمير دموکراتيکو (کمونستی) حلقو په نوم ډلې جوړې کړي (کی ، جی ، بی په بهرنيو هيوادونو کي دمزدوروسياسی ډلو جوړولو اودهغوی له لارې دخپلو انسانی ضد پلانونو دعملی کولو پخاطر مخصوصې څانگې لري).

په ۱۳۴۳ هـ ش کال کي نوی اساسی قانون تصويب اوخپورشو اوپه هغه کي

په افغانستان کي دکی ، جی ، بی...

سياسی فعاليتونواودگوندونو جوړولو اوفعاليت ته اجازه ورکړل شوی وه نوکی ، جی ، بی بې له ځنډه پخپل لاس جوړوشویو ډلوته نوم ورباله ، تاسيس او په ظاهره يی دهغه اساسنامه اوپرنامه جوړه اودمرکزی کميتې غړي يی تعين کړل، تره کی دنومورې گوند لمړی اودوهمه گڼه کي يی په ظاهره خپل مرام خپورکړ خوبيا لږڅه وروسته ذکرشوی جريده نشرنه شوه .

کی . جی ، بی دخپلی

په روس کي افغاني محصلينو اوفارغانو دخبرو عمده لوري دکمونيزم ستاينه اودهغه مخالف جنس په اړوندؤ چي دکومو سره به يي دحيوانيت جنسي اړيکي قايمي کړي وي اودافغانستان هغه ځوانان چي روس يي په خپلو سترگو نه ؤ ليدلي ، په خيالي ډول سره به په روسانو اودهغوي دحيوانيت په جنسي اړيکو باندي شيداً اوعاشق شول اودځواني احساساتو دتسکين پخاطر په افغانستان کي روسي ټولني ته ورته ټولني دجوړولو ارزوگانو يي دشيطان په څيرځانونه وتوخنول . .

دستوروركړچې بايد ټولې په گډه سره واحد سازمان جوړکړي . د۱۳۴۳ هـ ش کال دڅور په يوولسمه نيټه دذکرشويو ډلو نمايندگانو دتره کی په شخصی کورچې دکابل ښار په څلورمه کارته کی يی موقعيت درلود غونډه جوړه کړه ددی غونډې په نتيجه کې يی دخلك دموکراتيك جريان په نوم سازمان چې بيا وروسته يی دخلك دموکراتيك گوند په عمومی منشی اوکارمل يی دمرکزی کميتی منشی په توگه وټاکل يا په بل عبارت تره کی دگوند رئيس اوکارمل يی دهغه دمعاون په صفت تعين کړل

(په نوموړی غونډه کی تره‌کی اوکارمل ددوومختلفو حلقو دنماينده گانو له جملی څخه ؤ).

دغه گوند دخلق په نوم جريده نشر ته وسپارله اوپه پخوانی تجربې له مخې دغو اجنټانو ته دستوروركړچې خپلو فعاليتونو ته په فرهنگی (پوهنتونونو ، ښوونځيو ...) کارگری اونورو دولتی موسسو اوپه عمومی ډول سره پرځان باندې دځوانانو راټولولوته پراختيا اوگړنديتوب ورکړي ځکه چی ځوانان ترټولو احساساتی - زرمشتعل اودوکه کيدونکي نوموړی گوند په مظاهرو، متهنگونو اوانفرادی تبليغ جلب اوجذب پيل وکړ .

خوددريو کالو په جريان کې څرگنده شوه چی دروسانو په مزدورگوند باندی لکه څنگه چی ارزويی درلوده څوك راټول نه شول نوکی ، جی ، بی دبل تاکتيك څخه کارواخيست هغه داچې خپل اجنټان (تره کی اوکارمل) يی دې ته اړکړل چی بايد نوموړی گوند په دوو برخو وويشی هغه وُ چی په ۱۳۴۶ هـ ش کال کي ذکرشوی گوند په دووډلو وويشل شو ديوې ډلې په راس کي تره کی اودبلې په راس کي کارمل تعين شو دتره کی په ډله کي اکثريت پښتانه اودکارمل په ډله کی تاجکو اونورو مليتونو اکثريت جوړاوه ، دروسانو داپلان څکه په گټه تمام شو چي هم خلقيانو اوهم پرچميانو دنويو غړو جلب اوجذب طريقه دمليت ، ژبی اومنطقوی تضادونو څخه په بده گټه اخستلو سره پيل کړه نوپه هغه سويه چی ظاهراً يی په خپرونو اوتبليغاتو کي په ياد شويوساحو (ژبی ، مليت ، منطقی)کی دتضاد اواختلاف څخه نفرت ښکاره کاوه په عمل کي يی په همغه اندازه ورڅخه بده گټه اخستلو ترډی دمه پوری دوام وکړ (کله چي دنوموړو ډلو دغړو کميت زيات شوو «کی ، جی ، بی » ددغوډلو دمحدوداومهمو غړو سره مستقيمی اړيکې درلودې).

« نوربيا »

کړه خوله ...

نن دنجيب کړه وړه اودهغه حالت په ډاگه دهغه دماتی اوکمزوری څخه پرده پورته کوی !

نونن که دنجيب هغه څوکاله مخکی وينا را په ياد کړو هلته چی ده به موتی دقدرت اوقوت په نښه خوځاوه ، اوله بلی خوا دخپل مجاهد ولس دمتو زور ته وگورو چی نه يوازی روسان يی له خاوری څخه وشړل ، بلکه دهغوی پر مزدورانو باندی يی هم تورتم جوړکړی ، نوبی ځايه به نوی چی موږووايو « کړه خوله په سوك سميږی »!!

هزاران البانیا یی به ایتالیاپناهنده شدند

حکومت ایتالیا اعلام نموده است به ان هزاران پناهنده البانیا یی که ازطریق بحربوسیله کشتی به چند شهرجنوبی ایتالیا وارد شده اند ترتیبات معیشتی اتخاذ نموده است .
رادیو بی بی سی دریك خبر خود همچنان گفته است که تعداد بیشتراین پناهنده ها درمکاتب وخیمه ها جابجا شده اند .
یکی ازوزرای ایتالیا گفته است درین رابطه تحقیقات صورت خواهدگرفت که چه تعداد ازمهاجرین پناهنده های سیاسی وچه تعداد په علت مشکلات اقتصادی مهاجرت کرده اند .
حکومت ایتالیا دوکشتی جنگی خودرا توظیف نموده تاازورود بیشتر مهاجرین البانیایی جلوگیری نماید .
مردم البانیا همچنان به مجادله وقیام خود علیه رژیم کمونستی انکشور ادامه میدهند این تعداد ازمردم البانیا نیز درنفرت ازرژیم کمونستی ومشکلات شدید اقتصادی ازانکشور فرارمی نمایند.

دصدام حسین حکومت به ډیر ژر نسکورکړو!

لندن – دکب ۱۸مه :
دعراق داوسنی حکومت مخالفود «۱۷» ډلو داتحاد دمرکزی کمیټی یوه مشر ډاکټر نادر عباس ویلی دي چې ډیر ژربه دصدام حسین اودبعث گوند حکومت رانسکورشي ، نوموړی پر صدام حسین توررولگاوه چې هغه بی دلیله په سل هاوزره عراقیان داتحادی پوځونو سره په جگړه کی ووژل ، څکه نو دعراق عوام اوس نه غواړی چې دغه ډله پر اقتدار کې پاتی شی .
نوموړی ویلی چې د(۱۷) گوندئی اتحادیوزیات شمیر مشران لندن ته راغلی اودلته دبریتانوی حکمرانو څخه علاوه دنورو هیوادو له دیپلوماتانوسره دهغوی خبری اتری جریان لری اوټولو هیوادو دوی ته دهمکاری اطمینان ورکړی .
بلی لوری ته په بیروت کې دصدام دمخالفینو یوه بل مشر شیخ صغیر ویلی چې دصدام حسین پرخلاف دپاڅون په اوو ورځو کې له ۳۰ زرو څخه زیات کسان مړه اوپه زرگونو نورټپيان شوی دي.

موږ په افغانستان ...

داډراکوه چې پرسرکونو بلکل امنیت دی خوموږبه ددزو غړونه کله ناکله اوریدل اویا به دټانکونو ډزو چوپتیا ماتوله اوموږبه په خپلو ناستو سیټونوکی راغونډ شوو «بوژاکوف» وویل : یو ځل ډریورانودجنگ سیمی ته دموټر دداخلیدو څخه انکاروکړخودقوماندان ددې اخطاروروسته چې دوی به په گولیو وولی موټرو ورو ورو حرکت وکړ په دې ورځ موږبه زیاتی غصی اونه زړه سره موټروچلول ».
دبگرام په سیمه کې ددوو روسیی ډلو ترمنځ دنښتو په باب «بوژاکوف »وویل : کله چې په دې سیمی کې دروسانویوه ډله دمجاهدینو ترمحاصری لاندې راغله ماښام الوتکو دهغوی دمرستی لپاره پراشوټی قواوی کوزی کړی ترڅو دهغوی سره یوځای شی محاصره ماته کړی اوهغوی راوباسی ، خودزیاتی تیاری له امله دوی محاصره شوی ډله پیدانکړه اودنه پیژندگلوی له وجی یې پریو بل ډزی پیل کړی ، شپی ترناوخته دروسانو ترمنځ جگړه روانه وه ، اوکله چې هغوی وپوهیدل اوډزی بندی شوی دروسانو شمیر کم شوی ؤ ، هغوی دمخابرې په وسیله دروسانو مرکز ته خبرورکړ چې داسی پیښه منځ ته راغله اوکه اوس نوره مرسته راونه لیږی اشرار!! (مجاهدین) به موژوندی ونیسی ، خودمرکزقوماندان دوی ته امرورکړ چې دتسلیمیدو پرځای ځانونه وولی ترڅوله منځه لاړشی ، په دې ډول الله تعالی دبی وزلو بدل واخیست اودروسانو په لاسونویې روسان ووژل » «بوژاگوف » اوس مسلمان شوی ، کله چې دهغه څخه وپوښتل شول چې اوس بیرته روسیی ته تللی غواړی ؟ هغه یو سوړ اسویلی ویوست اووئی ویل :
« مور اوپلارمې ډیریادیږی خوماته روسیی ته تگ ناممکن دی ، څکه چې ما دوه لوړرتبه روسی ډریوان ویشتلی دی اوددې په بدل کې ماهم دگولیو ویشتونکو ولی مخی ته دروی اوس اسلام زما یواځنی امید دی اوزه همدلته دمجاهدینو سره پاتی کیږم زما نوم اوس وکتر بوژاکوف نه بلکی زما نوم «مسلم» دی او«مسلم».
نوربیا

په عراق کې دبغاوت لړۍ ...

دی .
دتهران رادیو دیوه خبرمطابق شورشیان دعراق په ۲٤ ښارونو کې ددې هیواد له پوځیانوسره په اخ اوډب مصروف دي .
له بلی خوا په دمشق کې دصدام حسین د۱۷ مخالفو ډلو مشرانو په یوه مطبوعاتی کنفرانس کې وویل چې ددوی دافرادو له خوا په بصره کې دجمهوری گارډ سره سخته مقابله کړی او دکردستان په څوښارونو باندې یې قبضه کړی .
دصدام حسین دغه مخالفینو داهم ویلی چې ځینی عربی هیوادونو ددوی دمرستی درخواست ته مثبت ځواب ورکړی .
له بلی خوا دکب په ۱۹ مه دعراق داپوزیسون مشرانو په بیروت کې په یوه دری ورځنۍ کنفرانس کې گډون کړی چې دهغی هدف ، دصدام حسین پرضد دپاڅون کونکو ترمنځ درابطی پیداکول ؤ .
دبغداد راډیوپرله پسې له هغه پوځیانو څخه چې دپاڅون کوونکو په تړلیو کې ورگډ شوی غوښتنه کوی ترڅو بیرته خپلو قطعاتو ته راستانه شی ، دغه راډیو وایې چې کوم پوځیان چې بیرته خپلو قطعاتو ته راستنیږی ، صدام حسین هغوی ته دعفوی اعلان کړی .
بل لوری ته په ایران کې میشته دصدام حسین دشیعه مذهبه مخالفینو مشرانو ویلی دي چې دعراق په جنوب کې دعراق پوځ یوه قطعه دمخالفینو ډلی ته شامله شوی ده .
دبی، بی ، سی رادیو دیوه نوی خبرله مخی دمخالفت اوپاڅون لړی دعراق مرکزی اوجنوب ختیځی سیمو ته هم سرایت کړی ، رادیو وایی دعراق دکردانو یوه مشرویلی دي چې دکردستان دیوې پراخی سیمی کنټرول اوس دهغوی په لاس کې دی .
بی ، بی سی رادیو زیاتوی چې دعراق جمهوری گارد اوس دبصری ښارکنټرول په خپل لاس کې نیولی دی ولی دمخالفت لړۍ اوس هم روانه ده .
دامریکی دپټو اطلاعاتو یوې اداری ویلی چې دصدام حسین مخالفینو کم ترکمه ددری ښارونو کنټرول په خپل لاس کی اخیستی .

دافغانستان په هکله د(وفا) مؤسسې ...

جریان کی ددی سیمینار درسمی ژبی په توگه دانگریزی ژبی اعلانولو سره خپل مخالفت ښکاره کړ، اوغوښتنه یې وکړه چې افغانان باید خپل مقالې اوویناوی په خپله ژبه وړاندې کړی ،اودبهرنیو هیوادودگډون کوونکو خبری هم باید وژباړل شی .
ښاغلی چینزایی دخپلوانتقاداتو په ترڅ کی تورولگاوه ، چی دغه سیمینار زموږ دجهاد پرضد داستعمار له نویو توطئو څخه ده ، چی غواړی زموږجهاد سبوتاژ کړی .
همدارنگه ښاغلی واصفی پدی هکله ټینگاردرلود چې موږدانگریزانو غلامان نه یو ، چی زموږدسیمینار رسمی ژبه دې انگریزی وی ، موږله انگریزانواواستعمارگرانوسره جگړی کړی دی
په همدې ترتیب زموږخبریال زیاتوی چې دسیمینار یوزیات شمیر گډون کوونکو پدی باندی انتقاد درلود چې دسیمینار غونډه په دوو برخو ویشل شوی وه ولی دغونډی په وقفه کې چې سمه دغرمی په وخت وه ، دغرمی دطعام لپاره څه ترتیب نه و نیول شوی اوبرخه والو څخه غوښتنه وشوه چې هغوی خپله دخپلی ډوډۍ انتظام وکړی ، له بلی خوا ځینی کسان داسی هم ولیدل شول چی هغوی ته دسیمینار دمسولینو له خوا دډوډۍ خوړلو پټ کارتونه ویشل شوی و، دغرمی وروسته غو نډه کې گډوډی نوره هم زیاته شوه په تالارکې گڼو کسانو په سیمینار اوډهغی پراهدافواودایرونکو انتقادونه کول اوحتی توند شعارونه یې ورکړل ،دپیښور څخه خپریدونکی انگریزی ورځپانې «فرنیټرپست» دسیمینار په دوهمه ورځ لیکلی دی :« دحزب اسلامی حکمتیار یوشمیر ځوانانو کوشش وکړ چې غونډه په بشپړه توگه اخلال کړی ، دغو ځوانانو کوشش کولو چې دسیمینار ستیج قبضه کړی اودظاهرشاه اوسمینار خلاف شعارونه ورکړی خوبیا دپولیسو دمداخلې له امله وضعه یوڅه ارامه شوه .»

دبنگله دیش په وروستیو..

خپله تاریخی تیروتنه او دشیخ مجیب په ناوړه عزایمو وپوهیده همغه ؤ چې په «۱۹۷۵»کال شیخ مجیب الرحمن له یوې لور «حسینه واجد» پرته له نوری ټولی کورنی سره په یوه انقلاب کې دولس دقهر او غوسی په اور کې لولپه شو.
له «۱۹۷۵» نه د«۱۹۹۰» تر وروستیو میاشتو پوری پرلپسی په بنگله دیش کې دمرحوم جنرال ضیأالرحمن - جنرال عبدالستار او جنرال حسین محمد ارشاد پوځی حکومتونه منځ ته راغلل له یوی خوا پردغه فقیر هیوادکې سیاسی بی ثباتی او کشمکش او یو پربل پسې پوځی حکومتونه او له بله پلوه دهند لاسوهنی ددې سبب شوی چې پر بنگله دیش قحطی - فقر او بی وسی خپل تور جال وغوړوی ، سربیره پردې بحری توپانونه او ورانوونکی سیلابونه هم هغه ستر ازمیښتونه ووچې ددغه هیواد پر اقتصاد او ژوندانه یې مرگونی گوزارونه کول دغه فقر بدمرغی - لوږې قحطی او بیا سخته بی ثباتی دبنگله دیش مستقل موجودیت له جدی گواښ سره مخامخ کړی ؤ چې بالاخره د تیر عیسوی کال په وروستیو وختونو کې دجنرال حسین محمد ارشاد دحکومت په مقابل کې ټول ولس داحتجاج ډگرته راووت او دیوې میاشتی په موده کې جنرال ارشاد دسیاست او واکمنی له چوکی نه دنظارت او زندان غولی ته راښکته کړای شو او دقاضی شهاب الدین په مشری عبوری حکومت د «۱۹۹۱» کال د فبروری په ۲۷ مه دعامو انتخاباتو اعلان وکړ ، په سیمه کې دهند لاسوهنی او په جنوبی آسیا کې دهغوی واکمنی غوښتنی روحیه او بیا په بنگله دیش کې په پراخه پیمانه لاسوهنی داتاثر عام کړی ؤ چې دبنگله دیش په انتخاباتو کې به د هغوی پخوانی خلیفان او انډیوالان « عوامی لیگ » په قاطع اکثریت سره دغه انتخابات وگټی خو په ډیر تعجب سره دانتخاباتو نتیجو دااوښودله چې هغوی هند او هندو پرستان ردکړی دي ، دبنگال مسلمان ولس دخپل ایمانی او ملی غیرت اوحمیت په غوښتنه دعوامی لیگ دبری او په سیمه کې دهند د واکمنی پر خوبونو دبطلان کرښه راکش کړه . ددغه تاریخی انتخاباتو په نتیجه کې دمرحوم جنرال ضیأ الرحمن کونډې «خالده ضیأ » په مشری دبنگله دیش نشنل گوند دپارلمان له (۳۰۰) نه (۱٤۰) چوکی وگټلی او دترټولو ستری پارلمانی ډلی په حیث را ډگرته شوه عوامی لیگ(۸٦) او جنرال ارشاد (۳۵) چوکی گټلی چی دهغه پر ضد دوروستیو احتجاجی عکسلعملونو په نظر کی نیولو سره بیا هم له اټکل څخه لرې او بهر د ی ، څلورمه ډله چی د بنگله دیش په راتلونکی سیاست کې به مهم رول ولری جماعت اسلامی دی چې دپارلمان (۱۸) چوکی یې گټلی دي دبنگله دیش وروستیو انتخاباتو وښودله چې دبنگالی ولس مخه د هند او سیکو لریستی نظام له لوری اوښتی او داسلام په لوری راگر ځیدلی ده ددغه مظلوم او فقیر اسلامی هیواد دوروستیو انتخاباتو له ترسره کیدو سره دغه هیلی او امیدونه هم غزونی کوی چې گوند ی نور ددغه مسلمان ولس د کړاو ، بی وسی او بدمرغی شپی سبا شی او ډیر زر نړیوال داسلام تر سیوری لاندې بیا ، خوشحاله او هوسا بنگالیان وويني
...انــــــشـــــاالـــــلـــــه

انتظار دچاپه گټه اوډځه ...

دجهاد ددښمنانو اوسیاسي سوداگر وپه گټه دی اوس دهغه وروستي او یواځیني امید دغوړیدو وخت رارسیدلی چې دهیواد په داخل کې ددولس کلن خونړی جنگ گټونکی اوفاتحان دهغې په تکل رامخې ته شوي اودمسلط رکود اوبن بست دماتولو له پاره یې هم اهنگو فعالیتونو اوگډې جنگي ستراتيژي اویو مخیزو عملیاتو په لارکې فعالیت پیل کړی .
اوامید دی دداډول مخلصانه هلو ځلو په نتیجه کې به منځ ته راغلی رکود له منځه ولاړشي اوافغان مجاهد ولس به دخپل وروستي بري سرمنزل ته ورسیږي .
ومن الله التوفیق

انتظار دچاپه گټه اودڅه له پاره ...

دوه کاله څه کم وخت تدي داډېر لوی فرصت اواوږد وخت دي دباکفایته اوصالح قیادتونو له پاره خپلو ولسونو ته دخدمت اودنیکمرغۍ اوهوسايي په لارکي دخدمت داپوره اوکافي وخت دی خوله بده بخته چي دعبوري حکومت دوه کلن عمر زموږدمقاومت په سطحه دخپل منځي ناندرېو اوسياسي فرکسيون بازيو په بربوکېو کي تېرشو اونه داچي لدي وخت اوفرصت څخه څنګه چي لازمه وه استفاده ونشوه‌بلکي پدي موده کي موږ ډېر طلايي چانسونه اوفرصتونه هم ضايع اوله لاسه څخه ووتل .

زموږمجاهداواسکیرلي ولس دجهاد په خونړي لسیزه کي دزعامتونوله خوا داتحادونو په نامه دډيروترخوتجربو زهرجن غوړېونه په سراړولي ‒ ديوي پراخ واقعي ، منطقي اودوامداره اتحاددنشتوالي له امله له داسي شديدوضربو اوکړاوونو سره مخامخ شوي اوداسي خپل شوي اوزمولېدلي چي دروسي تاړاکګرو دوحشتونو اوبرغلونو له لاسه يي داسي کاري ګذارونه اوضربي ندي ليدلي .

دهمدغو قيادتونو له خوا دولس دغه پراخيتني غوښتني او انتظار ته چي دالله تعالى صريح اوامريي هم لوري ښه ترارونبانوي‌نه پراخي داچي لازمه توجه ونشوه بلکي هروخت خپلو ذاتي ګټواوګوندي مصلحتونو ته يي داوليت حق ورکولو لاري دولس مثالي اويي دريغه قرباني دسياسي سوداګري اوبين المللي تجارت له ګواښ سره مخامخ شويدي .

هراتحاد چي اعلان شوي ډېر ژر دذاتي مفاداتو اوګوندي ګټو په توپانونو کي سره داسي تيت پرك شوي چي دولس له پاره يي ډېر غمونکي نتايج په ځاي پري ايښي دي ، همدا لاملونه ؤ چي دروسي يرغلګرو له شکست وروسته مجاهدينو په سياسي سطحه ددي توان پيدانشواي کړي چي د يوه واحد ، متلي اوکوټلي دريځ اوارګان په جوړولو متفق اوموفق شي چي هغه واقعاً دقضيي داساسي حل په جهت کي برپالي اوغوڅ رول ولوبولي شي .

نن موږبه ډېر تأسف سره ګورو چي دنجيب لاس کيټولي اومخ په زوال رژيم لاپه کابل کي په ځاي پاتي دي خودمجاهدينو عبوري حکومت دسقوط اوشکست پړژي خداي خبر لادڅه ترخو حوادثو ښپي په مخه کوي .

دافسوس خبره داده چي اخرکله به زموږمسلمان اوسربښندونکي ولس دداډول ترخو اوزهرجنو تجربو په تاوکي نيته کيږي اودالړي به لاترکومه دمقاومت ديري په لارکي ددښمنانو اواستعمارګرو له پاره دښته ځراغ په توګه دهغوي پليت اميدونه اوملبوحانه هلي ځلي ژوندي اوتاندي ساتي .

داهم لانده معلومه چي داڅل به جهادي قيادتونه لاددغه مظلوم ولس له پاره ترکوم عنوان لاندي دڅه ډول نمايشي او فرمايشي طرحو له لاري دانقلاب له پاره موجوده حياتي اوقيمتي وخت ضايع کوي ...

ځکه څومره چي ليدل کيږي دجهادي قيادتونه متفرق ډول دبيلا بيلو طرحوپروګرامونو اولاروچارو په مخکي نيولو سره دمختلفو اړخونو اوقوتونو په سرخوځولو سره په فعاليتونو بوخت دي اودوحدت دپروسي په وړاندي نوي مشکلات رامنځ ته کوي .

له همدي ځايه داپه ډاګه کول په کاردي چي نه خوملت نور دداډول سياسي لوبو دتکرارزغم اوصبرلرلي شي اونه خوخت اوشرايط ددي حوصله لري چي لدي زيات حالات دچاپه ګټه وساتلي شي نورانتظار خوپيله دي چي دوخت ضياع يي وګڼو دانقلاب له پاره مثمر نشي ګڼل کيدي ځکه همدا ستغ انتظار ؤ چي دښمن ته دډول ډول توطئو اومانوروفرصت اووخت په لاس ورکوي اوحالات زموږدقضيي په ځرګند تاوان تماميږي له همدي ځايه ده چي ويلي شو نورانتظار زموږبه ګټه نه بلکي

په اووم مخ

خبرتیا

گرانو مجاهدینو ، مهاجرینو اوانصارو ورونو !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

په ډېر درناوي سره خبردرکووچي :

دافغانستان دمجاهدینو راډیو دوه مياشتي کيږي چي په پرله پسي توګه يي په خپلو خپرونو پيل کړی دی .

تاسي کولي شی چي زموږ خپروني فعلاً دورځي دوه ساعته په لاندي وخت اوڅپو واوري .

لومړۍ خپرونه :

دافغانستان په وخت دسهار له (۷) بجو څخه تر(۸) بجو پوري

دوهمه خپرونه :

دافغانستان په وخت دمازديګر له (۵) بجو څخه تر(۶) بجو پوري

څپې :

په منځنۍ څپه (ميډيم) (۱۲۰۰) کيلو هيډز اوپه لنډه څپه (شارټ)(۳.۲) ميګاهيډز چي له (۹۰) متره باينډه سره برابره ده خپريږي

دافغانستان دمجاهدينو دراډيو تلويزيون دلوی مديريت لخوا

پوست بکس (۱۰۳۳) يونيورستي ټاون پيښور

ابراز رای بطرفداري استقلال

مردم جمهوری های استونیا ولیتویا واقع کرانه بالتیك روسیه بااکثریت قاطع ارا بطرفداری ازادی ازمسکو رای دادند ، نتایج بدست امده انتخابات نشان داد که ۷۳ درصد از ۸۲ درصد اشتراك کننده گان درجمهوری استونیا و۷۷ درصد از۸٤ درصد ازاشتراك کننده گان درای گیری جمهوری لیتویا بطرفداری جداشدن جمهوری های شان ازمسکو ابراز رای نمودند .

رئیس جمهور استونیا درین رابطه گفته است رایگیری سرنوشت اینده کشوررا که ازادی ازوابستگی مسکو است روشن ساخت .

مردم جمهوری لیتوانیا نیز قبلا بطرفداری استقلال ازمسکو رای داده اند

وبا ینترتیب سه جمهوری بالتیك روسیه به داعیه استقلال طلبی خویش حمایت وپشتیبانی مردم خویش راحاصل نمودند .

طبق یك خبر دیگر شورای مرکزی طرح همه پرسی مسکو پلان راترتیب وتائید نمود تا بعدا مورد نظر خواهی جمهوری ها قرارگیرد ، تاحال هفت جمهوریت ازپانزده جمهوری روسیه باطرح همه پرسی کرملین که هدف ان تحکیم وابستگی جمهوری ها به مسکو است مخالفت شدید خود را ابراز نموده درعوض بخاطر کسب استقلال ازمسکو همه پرسی رابراه انداخته ومی اندازند .

دافغانستان په هکله د(وفا) مؤسسي دريَ ورځني سيمينار

پيښور دکب ۱۸ مه :

دجهاد هنداره خبريال :

«دافغانستان دسياسي اوقانون جوړلو مؤسساتو بيا رغونه» ترنامه لاندي دری ورځنی سيمينار چی دآزاد افغانستان دليکوالو ټولنی (وفا) لـه خوا يی اهتمام شوی ؤ ، دکب په ۱۸ مه نيته دپيښور په «کانتيننتل هوټل »کی افتتاح شو .

ددی سيمينار دلمړی ورځی په افتتاحيه غونډه کي چي دوفا دمشر پروفيسور عبدالرسول امين په افتتاحی وينا سره پيل شوه،دپاکستان دسرحدی ايالت ګورنر امير ګلستان جنجوعه،دمجاهدينو دمؤقت حکومت دماليی وزير امين ارسلاء، حبيب الله تري دکابل پوهنتون پخوانی استاد ،دامريکا اوسيدونکی انتونی هايمن اويو شمير نورو بهرنيو پوهانو ددی موضوع په هکله خپلی مقالی ولوستلی اوخبری يي وکړی .

زموږ خبريال ليکی چی ددی سيمينار دلمړی ورځی په غونډه کي يو لړ خرتياوی رامنځ تـه شـوی ، ددی سيمينار دوو تنوګډون کونکو (پخوانی دزراعت وزير عزيزالله واصفی) او «چينزايی» دغونډی په

په اووم مخ کی

مجاهدينو دخلم تنګی لويه لاره تړلی ده

دسمنګان ولايت څخه قوماندان مولوی محمد اسلم دقوماندانانو شوراتـه رپوټ ورکـړی چـی مجاهدينو ددولس ورځو راپدی خوا دخلم تنګی لويه لاره تړلی اوجګړه اوس هم روانه ده .

دمجاهدينو پدی حملـه کی دکمونست رژيم ۱۶ تـنـه عسکرنيول شوی اودوه تنه منصبداران دڅلورو عسکرو سره وژل شويدی .

اوهم ددښمن دری عرادی موټر ، يو ميل پی کا ماشيندار اودوه ميله کلاشينکوفونه دمجاهدينو له خوا په غنيمت نيول شويدی .

پدی نښتو کی دمجاهدينو دری تنه شهيدان اوپنځه تنه ټپيان شويدی.

دهيئت تحرير ترنظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

يونيورستي ټاؤن پيښور

ټيلفون :... (٤١٧٤٦)

ديولينډو له لاري دالمان څخه د روسي عسکرو وتل بند شوي دي

دروسيي پوځی قوماندان په ختيځ المان کی ويلی دي چی پولينډ غواړی دالمان څخه دروسيي دسره پوځ دوتلو لاره وتړي .

جنرال برلی متلا کوف تيره اونی خبرياالانو ته وويل : دپولينډ مقامات اجازه نه ورکوی چی روسی عسکردپولينډ په خاوره کی تيرشي.نوموړی وويل دوارسا دغه منعه کول به روسيه مجبوره کړی چی دخپلو عسکرو په ليږلو کی دبيړيو اوالوتکو څخه کاراخلي .

دپولينډ مقاماتو هغه وخت داورګاډی پټـلـی‌وتـړلـه چـی د(۵۰۰۰۰) پاتـه شووعسکرو دوتلو پريکړه دپولينډ له خاوری څخه شوی وه .

په کابل ښارکی دخلقيانو کورونه تلاشي کيږي...

په هغه تلګرام کی چی قوماندان محمد ناصر دشکردری څخه دقوماندانانو شوراته مخابره کړيدی ويل کيږی چی په کابل کی سخـتـه ګـډوډی روانـه ده اودملحد رژيم له خوا دحوت له ١٤ نيتی څخه اول لمبر احضارات پيل شويدی .

په تـلـګـرام کی راغلـی چی دخادستانو لـه خوا دخلقيانو کورونه تلاشي کيږی اوله هغوی څخه وسلی ټولـوي اوس يو شميرخلقيان له کورونو څخه وتلی اوځانونه يی دخادستانو له تلاشی څخه پټ کړيدی .

خبرزياتوی چی تلاشی اوس هم دوام لری .

اطلاعیه

پوهنتون دعوت وجهاد به انعده استادانیکه سابق درین پوهنتون مقررشده وتاحال بدون اذعان رسمی پوهنتون به وظیفه حاضر نشده اند خبرمیدهد که نظر به فیصله شورای عالی اگر تامدت بیست روز دیگر به وظیفه خویش حاضر نشوند ازبست منفك گردیده حق شکایت رانخواهد داشت .

پوهنتون دعوت وجهاد

قیام معیوبین ومعلولین ...

وارد صحنه شدند برانها فیرنموده دونفر ازمعیوبین ومعلولین راکه درمیان مردم کابل بنام یك لنگه معروف اند کشته وچند نفر شان زخمی شدند درمقابل یك لنگه ها نیز که مسلح بودند برقوای رژیم اتش گشوده هشت نفر راهلاك وبشمول امرحوزه نهم څارندوی هفت نفر دیگر را مجروح ساختند .

درخبرعلاوه شده است قوای څارندوی رژیم بلاك های مذکور رامحاصره وازورود خوراکه باب جلوگیری وجریان اب وبرق راقطع نمودند که درنتیجه یك لنگه ها ناگذیر به ترك بلاك ها شدند.

درخبر امده است که معیوبین ومعلولین مذکور خودرا مستحق درجه یك دریافت اپارتمان مسکونی دانسته وجهت دریافت اپارتمان رهایشی برحکومت نجیب فشار می اورند .